# يو بوډا مري

Ketabton.com

ژباړن صالح محمد صالح

2004ز، 1382ه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتاب ځانګړنې:

||||||||||||||||||||||||||||||||||||||||||||||

د کتاب نوم :: يو بوډا مري

ليکوالان :: بېلابېل

ژباړن :: صالح محمد صالح

خپرندوی :: بېنوا فرهنګي ټولنه- کندهار

چاپشمېر :: (1000) ټوکه

چاپځی :: يونايټېډ پرېس- کوټه

چاپکال :: 1382ل/2004م کال

کمپوز/ ډيزاين :: د هوسۍ مجلې اداره

کمپيوټرچارې :: بېنوا فرهنګي ټولنه- کندهار

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

**ډالۍ:**

درانه استاد جان محمد کاکړ ته، چې زړه یې د مینې او اخلاص سرچینه ده.

ښاغلي عبدالاحمد محمدیار ته،

چې انساني لویوالی یې

په لړو انسانانو کې پیدا کیږي.

په درنښت

صالح

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هانس بندر

## زيارت ته سفر

ماشوم هانس، د پخلنځي پر مېز حيران ولاړ و. د کور نوکره "انا" يې د پتلون په گنډلو بوخته وه. پلار وپوښتل:

"کار دې نه دی تمام شوی. چې قهوه وڅښو؟."

انا وويل:

"که هغه بد چلند دې نه و کړی، اوس به له وخته کار تمام و."

بيا يې کوټبندونه په لاس ټينگ کړل. ته وا غوښتل يې په دې ډول له هغوی څخه غچ واخلي.

هانس له مېز څخه لاندې خېز وواهه، تل يې هيله لرله، چې د چا له مرستې پرته، خپل بوټونه په پښو کړي.

نوي، هوسا- ژړرنگه او سلايي لرونکي بوټونه يې لرل، چې د گرځېدو په وخت کې به يې د جير- جير منظم اواز خپراوه.

انا، چې کله پيالې، چاينکه، ډوډۍ او مربا پر مېز کښېښگوده او د قهوې زړه زړه راکښونکی بوی هوا ته اوچت شو،مور راغله او ويې ويل:

"مور نن قهوه نه څښو."!

پلار چې له ډېره وخت د مېز تر څنگ ناست و، وپوښتل:

"ولې بايدقهوه ونه څښو؟."

مور ځواب ورکړ:

"د تاسف ځای دی، چې نه پوهېږې ولې؟"...

ان کله چې هنداري ته ودرېد او اوږده ستن يې له خولې څخه خپلو وېښتانو ته ننه ايسته، د څټ له لوري يې هم په څېره کې د ملامتۍ او منت حالت ليدل کېده. پلار د قهوې يو کوچنی غوړپ تېر کړ. انا چې له قهوې څخه منع شوې نه وه، په ارام خاطر د مېز تر څنگ کښېناسته او په پياله کې يې ډوډۍ ننه ايستله.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور، انا ته غږ کړل او د منقل خوا ته يې بوتله. د دېګ سرونه يې اوچت کړل، بيا يې ورته وويل چې غرمې او شپې ته بايد څه پاخه کړي. وروسته يې زياته کړه:

"کېدی شي د شپې کور ته راشو."!

پلار په سرای کې و او د خپل پخواني تور موټړ هنډل يې واهه. د موټر ماشين لا سوړ و، نو ځکه هر ځل به بيا مړ شو. د خپل تندي خولې يې وچې کړې او بيا په هنډل وهلو بوخت شو. کله چې يې د بېتابۍ له کبله ښکنځل وکړل، موټر چالانه شو.

مور په وروستۍ څوکۍ او هانس د موټر په مخکېني سيټ کې کښېناست. لاس يې ګېر ته وروړ، انا له وره راووته او چغې يې کړې:

"هانس! خپله خولۍ دې هېره کړه."!

مور، پلار او هانس کرار له کوره ووتل او تش واټ ته ننوتل.

د جون د مياشتې سهار و، لمر لا نه راختلی،هغه غبار چې پر ويالې ليدل کېده، د اوبو له تګ سره يې يو شان تګ کاوه. د ختيځ خوا ته د پرتې غونډۍ له شا نه لمر په راختو و. په پيل کې يې کمرنګو طلايي وړانګو، وروسته يې سوځوونکې سترګې، سرې ځوراوه.

د لمر په راختو سره د هغه کلي اوسېدونکي چې دوی ترې تېرېدل، له خوبه پاڅېدل. غويان په ارامه له سړکه تېرېدل، اسونو به خپلو اوخورونو ته ځغستل، د لرګيو ابدانونه، چې له زنګ وهلو نلونو څخه ورته اوبه ورتلې، له ليرې ځلېدل.

چګرګې به د وزرونو په رپولو سره د موټرونو له شنګه تښتېدلې، خوبولو کارکوونکو به د اسانو، پسونو او غويانو رمې يوې خوا ته بېولې. د شنو دښتو تر شنګ ځنګلونو ادامه لرله او د صبر د ونو څوکو به د لمر وړانګې راخپرولې.

مور وويل:

"په حقيقت کې دا غوره نه ده چې موږ په موټر کې زيارت ته ځو، نور خلك په پښو روان دي، دوی ان له فولداو تسبورګ او کلن څخه په پښوراځي. اکثره له ځان سره صليب اوپوهه راوړي. ناروغان په تسکره کې انتقالوي. ان ځينې يې په خپلو بوټونو کې مېخونه او نخود هم اچوي."...

پلار وويل:

"پاخه نخود."

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا یې وخندل. شپېلك یې وکړ او اکسلېټر ته یې نور زور هم ورکړ. د ساعت عقربې په یوه ساعت کې شپېته کیلومتره ښوول.

مور وویل:

"سره له دې ته پر معجزې باور نه لرې، خو بیا دې هم ښه وکړل، چې مور دې په موټر کې راوستلو، دا ښه کار و!. ښایي د دې کار له کبله په راتلونکي کې د خدای د مرحمت سیوری دربانديې خپور شي."

پلار وپوښتل:

"موخه دې کومه معجزه ده؟"

" -د مقدسې وینې معجزه"!

او مور په یوه داستان پیل وکړ، چې دشپې یې د خوب په وخت کې هانس ته هم کړی و.

شپېرسوه کاله پخوا، د مذهبي مراسمو د ترسره کېدو په وخت کې د کشیش جام چپه شو او د شرابو پرځای د محراب پر لمن وینې روانې شوې وې. دوولس سر لرونکي نقشونه یې جوړ کړي وو. چې د هر نقش په سر کې اغزن تاج لیدل کېده، په ځانونو کې یې هم کتاني جامې.

پلار د شك په انداز وویل:

"یانې شپېرسوه کاله پخوا؟"

" -کتاني جامې به چې په صندوقچه کې پټې دي، د زیارت په وخت کې ټولو ته وښیي."

د غونډۍ پر سر یوه کلا لیدل کېده، چې یو بیرغ یې پر سر په رپېدو و .

پلار وویل:

"دغه کلا د بزګرانو په جګړه کې ورانه شوه."

د غنمو کروندې د سرو ګلونو په جلوه کې ډېرې ښایستې ښکارېدې.

پلار زیاته کړه:

"دا زموږ د هېواد انبار دی. په ښوونځي کې یې ارو مرو دغه درس درزده کړی دی."

مور په ارامۍ سره د تسبېح دانې اړولې او تر شونډو لاندې یې دعا ویله. موټر په زیات شورماشور سره لار لنډوله. سړك کنډو کپر و، د موټر ټایرونو به د غویانو خوا ته ډېر کاڼي غورځول.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د موټر تر شا به د دوړو او خاورو لوېي څپې اوچتېدې اوپه ليرېو پرتو کروندو کې به خورېدې. پلار اړ شو چې موټر بيا ودروي. ماشن يې ګرم شوی و. کله چې يې د للېتر سر پرانيست، اېشېدلې اوبه يې پر لاسونو وشڅېدې. په غوسې سره يې وويل:

"لا حول والله."!

بيا يې د ځمکې او اسمان ستورو ته سپکې سپورې وويلې. مور نارې کړې:

"سپکې سپورې مه وايه! هيله کوم، موږ زيارت ته روان يو."

لومړی برجونو ته ځير شول. ښارګوټی پر غونډۍ اباد شوی و. د کورونو د بامونو له سره د کليسا برجونه ښکارېدل.

مور وويل:

"اورشيلم هم بايد همداسې وي."

" -که موټر په لار کې خراب نه شي، نو په پنځلسو دقيقو کې زيارت ته رسېږو. دغه ډول زاړه او کړوپ- کړوپ موټر ته دومره سفر ډېر زيات دی."!

مور تر شونډو لاندې دعا ويله او په ډېره مينه يې زيارت ته کتل.

پلار وويل:

"ډېر وږی شوی يم. هانسه! ته وږی شوی نه يې؟"

زوی يې هانس ځواب ورکړ:

"ولې نه! زه هم وږی يم."

مور له ساړه اه سره زياته کړه:

"تاسې هم يوازې پر دنيايي شيانو فکر کوئ."

د ښاري کورونو له کړکيو څخه ژړ، سپين او شنه و سپين بيرغونه راځوړند وو.

پلار د (رايشزايفل) هوټل په وړاندې موټر ودراوه. د هغه او مور ترمنځ لفظي شخړه ولاړه شوه. خو اخر مور په نرمۍ سره وويل:

"ډېر ښه، اول زه ځم، بيا تاسې راشئ."!

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په بیړه له کوټې څخه کښته روانه شوه .

وړاندې تر دې چې د هوټل یو کارکوونکی له پخلنځي څخه راووځي، پلار اړ شو درې وارې ورنارې کړي. کله چې کارکوونکی ورته راغی. یوه پېغله وه، چې سپین ټوکر یې پر سینه تړلی و. پلار وویل:

"لکه چې دلته زیات خلك نه راځي."

" -تراوسه لا وختي دی. هغه کسان چې زیارت ته تللي، لا په کلیسا کې دي."

پلار وویل:

"موږ هم د زیارت کوونکو له ډلې څخه یو، خو بیا هم دلته یو."

هغې ځواب ورکړ:

"له موټر سره زیارت ته تګ کوم ارزښت نه لري."

" -په دې خامو سړکونو کې له موټر سره تګ، له پیاده تګ څخه دومره توپیر نه لري."

هغې، په داسې لهجه چې غوسه ناکه غوندې وه، وپوښتل:

"د خوړو لپاره کوم څه راوړم؟"

" -هو! یو څه ډوډۍ او لږ شراب زما، د لیمو یوګېلاس جوس د دغه هلکي لپاره راوړئ."

" -کوم ډول یې غواړئ؟."

" -شنه یې."

هغه هم ننوتله او څه شېبه وروسته له دروازې څخه راووته. د پلار نظر په هغې پسې روان و. وروسته یې خپل زوی "هانس" ته وکتل او بیا یې وویل:

"ډېر وږی شوی یم."

"-زه هم وږی یم."

پېغلې ګېلاسونه او د لیمو جوس راوړل.

پلار وپوښتل:

"شراب مو په درد خوري؟."

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"-زموږ مېلمانه خو يې زياته ستاينه کوي."

"-بايد وپوهيږئ چې زه هم شراب پېژندونکی يم."

بيا يې د شوخۍ په ډول هغه پر شا وټپوله.

کله چې هغه پر مېز باندې کاشوغې او پنجې سمولې، پلار په پرله پسې ډول ورسره خبرې کولې. غږ يې ډېر توند او مينه ناك و .

په لوښي کې څو ډوله غوښه پرته وه، چې د پيازو په ټوټو ښکلې شوې وه، قهوه يي رنګه ډوډۍ چې ټوټې- ټوټې غوټه کړل شوې وه، په يوه بل لوښي کې پرته وه .

پلار په خوښۍ سره وويل:

"رښتيا چې ډېره خوندوره ده. تا ته هم خوند درکوي؟."

د هانس خوله ډکه وه. سر يې د رضايت د نخښې په توګه وښوراوه.

پلار، پيغلې ته مخ واړاوه او ويې ويل:

"رښتيا چې د دې ځای خواړه، د کور ترخوړو خوندور دي."

"-دارو مو شه."!

څرنګه چې هانس ته مور نژدې نه وه، چې منع يې کړي. نو غټې- غټې ګولې يې تېرولې، هانس يوغټ ټېغ وکښه، پلار او هغه پيغله لکه له ډېره وخته چې سره بلد وي، ويې خندل.

کله چې د خوړو لوښی تش شو، هانس په څوکۍ کې زانګو خوړل پيل کړل. پلار، دريېيم ګېلاس شراب راوغوښتل، په همدې حال کې يې د پيغلې مټ ونيو او هانس ته يې وويل:

"لکه چې ارام نه لرې، ښه نه ده چې يوازې ورشې؟."

" -هو"!

له دې سره هانس کوڅې ته ننوت. د کوڅې په پای کې د کليسا اوچت ديوالونه سره يوځای کېدل .

له ليرې څخه د ارګ Orgue د الې نغمه اوريدل کېده. هانس خپله خولۍ هېره کړې وه، له خپله پلاره په دې شرمېده چې بېرته راوګرځي او خولۍ واخلي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې يې د هوټل ور پرانيست، هغه پېغله يې وليده چې د پلار څنګ ته يې ناسته وه. پلار يې يو لاس د هغې پر اوږه ايښی و. څرنګه چې دروازې ته يې شا وه، هانس يې ونه ليد. زيارت کوونکي له هغه واټ څخه راتلل چې څلورلارې ته غزېدلی و. مذهبي سندرې يې ويلې او په بيرغ يا صليب پسې به روان وو.

کشيش او د ماشومانو يوه ډله د کليسا مخې ته ګرځېده. يوه ړيرور سړي د عيسی مسېح په شان يو صليب پر اوږه اخيستی و.

نجونو، د وحشي ګلانو ګېډۍ په لاسونو کې نيولې وې.

هغو زيارت کوونکو چې له ښي لوري څخه راستنېدل، بېله سندره ويله، د کيڼ لوري خلکو به بېله. د کليسا د زنګونو اواز، د دوی پر سندرو سنګيني کوله. د کليسا له يوې دروازې څخه د موسيقۍ اواز هوا ته جګېده .

په هغه ځای کې چې زيارت کوونکي سره ويني، هانس يو ځای شو. د خلکو ډلې له ځانه سره کليسا ته ننه ايست .

د کليسا د ماشومانو ډلې په سپينو او سرو جامو کې شمعې په لاسونو کې نيولې وې، چې کله به يې يوې خوا ته وړلې، کله بلې خوا ته. دربيو تنو نورو يې بلې ډيوې نيولې وې، چې لوغړن دود يې ټوله کليسا ډکه کړې وه .

د کليسا تر ګونبدې لاندې توتکۍ، يوې او بلې کړکۍ ته الوتې راالوتې. د چغو اوازونه يې د خلکو په شورماشور کې ورکېدل.

خلکو به يو بل د محراب خوا ته، چې ډېرې شمې په کې بلې وې راکښل. شمعې د حرارت له کبله وېلېدې او د محراب پر لمن يې اوښکې شويېدې.

د شمعو په لړزانده رڼا کې د سپينو او سرو زرو صندوق ځلېده. لکه څنګه چې مور ويلي وو، د وينو نخښې په کې ترسترګو کېدې، خوسرونو د پېژندنې ورتيا نه لرله. بيا يې هم د معجزې په سترګه ورته کتل. د محراب تر څنګ به ورته په ګونډو شول. هغه صليب به يې مچ کړ، چې پر زينه به پروت و. کشيش په لوړ اواز دعا ويله:

"ای مقدسې او ارزښتناکې وينې."!

خلکو به په يوه اواز ورغبرګوله:

"زموږ ګناهونه راوبخښه."!

"-ای مقدسې او ارزښتمنې وينې."!

"-زموږ له ګناهونو راتېره شه."!

ټولو به د محراب خوا ته مخه کړه، د وړو او تنګو څوکيو له منځه به تېرېدل.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور هم د یوې څوکۍ څنګ ته ولاړه وه او شونډې یې رېږدېدې. هانس د مور په لیدو زیات خوشحالېده. څنګ ته یې ودرېده، مور یې څو دقیقې وروسته ورته متوجه شوه. تر لاس یې ونیو، لږه راټیټه شوه او ورته ویې ویل:

"د خدای درګاه ته دعا وکړه. ښايي پلار دې دروبخښي."!

هانس نه پوهېده، چې د الهي بخښنې مانا څه ده. ورو یې هغه دعا ویله چې ورزده کړې یې وه او یوازې ماشومانو به زمزمه کوله.

داسې دعا، چې د دې مکان او موقعیت په درد نه خوري. کله چې یې بیا دعا وکړه، خپل پلار او هغه پېغله ورياد شول. چې لا په هوټل کې ناست وو .

لویه ګناه یې کړې وه. دا خو یوازې د ده مور حق درلود، چې د پلار له غاړې یې لاسونه راچاپېر کړي. یوه شپه چې کله یې مور و پلار د خوب په خونه کې په شخړه لګیا وو، هانس له خوبه اوچت شو او هغوی یې په دې حالت کې لیدلي وو. خو که دغه دعا مو د مور په نیت د پلار مینه زیاتوي، دی حاضر دی، چې ویې وایي:

په خپل ماشومانه غږ یې د نورو په ملتیا دعا ویله.

"زموږ ګناهونه راوبخښه."

"زموږ له ګناهونو تېر شه."

پلار، د غرمې لمر ته د کلیسا په مخکې ولاړ و، خولۍ یې په لاس کې نیولې وه او موسکی و. مور وویل:

"اوه! نه پوهېږې چې څه څيزونه دې له لاسه ورکړل؟"

پلار ځواب ورکړ:

"ما هېڅ شی هم له لاسه نه دی ورکړی، ځکه چې د مراسمو په پای کې په کلیسا کې وم او د خیر دعا زما په برخه شوه."

مور وویل:

"ښه شو، چې د خیر له دعا څخه خو برخمن شوې."

د کلیسا په وړاندې، پر چمن باندې خلك سره ناست وو، ښځو او ماشومانو خواږه خوړل او د جو د اوبو بوتلونه به یې پر سر پورته کول، ځینو پر سرونو دسمالونه تړلي وو، ځینو نورو چترونه خلاص کړي وو، چې وکړای شي په سیوري کې یې استراحت وکړي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلار وویل:

"لکه چې هانس غواړي په بازار کې وګرځي."

"ـ دلته بازار شته؟"

"ـ هو! د زیارت بازار یې بولي. خوتر هغه وړاندې دې باید مور ډوډۍ وخوري؟."

مور وویل :

"ډېره زیاته وږې شوې یمه."

ټولو وخندل اود "رایشز ایفل" هوټل پر لوري روان شول، چې ډوډۍ وخوري. هغه پېغله چې مخکې یې پلار ته ډوډۍ راوړې وه، له یوه مېز څخه بل ته تله او له پلار سره یې د خبرو اترو وخت نه درلود.

د لمر وړانګې د پلورنځي تر څنګ ونو باندې لګېدلې. پلورونکي د (سګرېټو، دسکلو "دستکشو" جرابو او خولیو په پلورلو لګیا وو. له هېیو څخه یې زیات مالونه راځوړند کړي وو او دوی هم په لوړو اوازونو خلك سودا ته هڅول).

پلار وپوښتل:

"غواړې چې یوه کجاوه درته رانیسم؟"

مور وویل:

"نه! زیاته مننه."

دېګونه یې سره اوډلي وو. منګي، غابونه (قابونه) او سګرېټدانۍ یې چې ښې ډیزاین شوې وې، څنګ تر څنګ ایښوول شوي وې. رانیوونکو د بازار په تنګو کوڅو کې غابونه (قابونه) اوچتول، ښه به یې کتل، بیا به یې پیسې ورکړې او تر بغل لاندې به یې نیول .

پلار پوښتنه وکړه:

"یو لوی غاب (قابونه) درته رانیسم؟"

مور وویل:

"نه، مننه"!

په یوه ځای کې شمع او نور سپېڅلي توکي پلورل کېدل.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په یوه بل پلورنځي کې سپېځلي سماوارونه هم پلورل کېدل، چې دوولس سرلرونکي رنګونه پرې انځور شوي وو.

پلار وپوښتل:

"یو یې درته رانیسم؟"

"_هو! یو نه، بلکې دوه. یو باید انا ته رانیسو."

"_بل څه هم غواړې؟"

څرخېدونکې زانګو څرخېده، ماشومان پر ابلقو لرګینو اسونو سپاره وو او څرخېدل. پلار هانس ته مخ راواړاوه او ویې پوښتل:

"پر اس سپرېږې؟"

هانس وویل:

"پر اس؟ پر سره اس؟"

کله چې هانس پر اس سپور و، مور و پلار ورته لاسونه ښورول .

"سر دې پرله څرخي؟"

"_نه هېڅکله نه"

ماشومانو کاغذي چرګان، پایپونه او کاغذي ماران پوکل، په شېریني پلورنځي کې بېلابېلې شېرینۍ خرڅېدې.

پلار وپوښتل:

"کوم ډول شېریني دې خوښېږي؟"

هانس وویل:

"هغه په پاکټ کې چې ده."

پلار، هغې پېغلې ته مخ واړاوه، چې د مېز تر شا ولاړه وه:

"احمقانه ده، څه وکړو، یوه شېرني خو ورکړه."

مور وویل:

"ان شا الله چې پښېمانه کېږې به نه"

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پاکټ کې څو ډوله خواږه وو، د پاکټ پر مخ د ساعت انځور و، چې ستنې يې انځور شوې وې. هانس وپوښتل:

"څو بجې دي؟"

پلار ساعت ته وکتل او ويې ويل:

"اووه بجې! خو ستا ساعت پنځه ساعته وړاندې دی. په اوو بجو کور ته رسېږو؟"

مور د زيارت سړك ته وکتل. د کليسا برجونه د غونډيو تر شا پټېدل، مور وويل:

"ډېر په زړه پوری او ښه سفر و."

د لمر سترګه چې نيمايي يې تياره شوې وه، د سړك د پای په برخه کې په ډوبېدو وه.داسې ښکارېدل، لکه پلار چې موټر د لمر خوا ته ځغلوي.

د غنمو له کروندې څخه توده هوا جګېده، خو د ونو سيورو، چې پر واټ خپاره وو، هوا سړوله. له ليريو پرتو چمنونو څخه غبار جګېده.

پلار وپوښتل:

"کوم شي اور اخيستی؟"

درېيو واړو بوی- بوی کړل. موټر يې يوڅه کرار کړ، دومره چې انسان ورسره ځغستلای شوای.

پلار وويل:

"هېڅ هم نه دي"

بيا يې د موټر سرعت زيات کړ.

مور، مخ واړاوه او زياته يې کړه:

"ولې دې خولۍ نه پر سر کوې؟"

هانس وويل:

"باد مې خوښېږي"

" _والګی به دې ووهي"

پلار، په امرانه انداز وويل:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"خولۍ دې همد اوس پر سر کړه"!

هغه کلا چې د بزګرانو په جګړه کې ورانه شوې وه او د سړك په بله غاړه کې پرته وه، سمه دمه ښکارېده. د بیا ستنېدو لار په چټکۍ سره ووهل شوه. ځکه چې اوس یې هرڅه ښه پېژندل.

مور وویل:

"یو څه کرار شه، ښه نه ده چې بیړه وکړې، د خوړو د جوړولو لپاره مې انا ته د اړتیا وړ ټول شیان سپارلي دي."

پلار ځواب ورکړ:

"فکر کوم چې د ډوډۍ خوړلو په وخت کې به ورسېږو، ښه ډوډۍ به تیاره وي؟"

"_د لوبیا قورمه او"...

پلار وویل:

"ان شا الله چې انا به دېګ نه وي سوځلی"

لمر په چټکۍ سره ډوبېده او هغې سکې ته ورته و، چې په اسمان کې ورکېده. د اسمان له بلې څنډې سپوږمۍ راختله او د کنګل یوې ټوټې ته ورته وه، چې نیمايي لمر روښانه کړې وي. کله چې موټر په لوړ واټ کې په خوځېدو و، ناڅاپه یې له ماشین څخه زیات توښ (غبار) رااوچت شو. پلار برك وواهه او له موټره بهر ووت. د موټر بانټ یې اوچت کړ. ویې لیدل چې اور، ټول ځایونه نیولي دي.

پلار چغې کړې:

"دباندې ووځئ، دباندې"!

مور او هانس راووتل او یوې کندې ته یې ځانونه واچول. په دې وخت کې له ماشین څخه دوه پرله پسې اوازونه اوچت شول. بیا ترې تور لوګی اوچت شو.

تر اورونو لاندې د للېتر د اېشیدنې اواز اورېدل کېده. پټرول او موبلایل ځاځکی ځاځکی پر ځمکه څڅېدل. د اور لمبو په ځاځکو پسې حرکت کاوه او تر ستونې یې تېرول .

مور پر پلار نارې کړې:

"مورږ باید څه وکړو؟ څه کولای شو؟"

پلار لاسونه اوچت کړل، کرار یې راکښته کړل او ویې ویل:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"هیڅ"!

په دې نژدې ځایونو کې اوبه نه شته، که وي هم نتیجه یې نه ورکوله. ټانکي چاودېدلې وه .

مور بیا نارې کړې:

"اوه خدایه! اوه خدایه"!

پلار وویل:

"مورې یوازې کولای شو ودرېږو او ننداره وکړو. ربښتیا، هانسه! دا ښایسته سوځېدنه نه ده؟"

لمبې شنې او ژړې وې. د منې د وښو د لمبې غوندې یې تودوښه لرله. د حرارت له کبله د موټر هنداري ماتې شوې او پر ځمکه توېې شوې. اور د موټر منځ ته لار وموندله.

مور وویل:

"هغه ښایسته توشکې"!

پلار ورزیاته کړه:

"نوی موټر رانیسو"

مور وپوښتل:

"کور ته به څنګه ځو؟ هوا تیاره کېګږي"

"ـــ کور ته؟ ګوندې کوم موټر له دې ځایه تېرشي او مورې له ځانه سره بوځي. خو که له دې لارې کوم موټر تېر شي."

پلار د موټر شا و خوا وڅرخېد. ویې خندل او ویې ویل:

"اوس مو د دې پېښې زیارت هم وکړ"!

پلار، د مور څنګ ته ودرېد، لاسونه یې د هغې له غاړې چاپېر کړل، کله چې بېرته د موټر خوا ته لاړ، مور په ارامۍ سره هانس ته وویل:

"پلار دې نورې ښکنځلې نه کوي. دا د زیارت تاثیر دی، د الهي بخښنې اغېز دی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ژباړې نېټه:1381ل کال- سلواغه

کندهار

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بلاسکو ایبانز

## سیند

د شپې دوې نیمې بجې به وې چې چا د جونګړې لـه شا څخه غږ کړل:

انتونیو ! – انتونیو!

انتونیو لـه کټ څخه اوچت شو. د هغه ګاونډی چې هر وخت به لـه ده سره د کبانو ښکار ته روانېده، ورپسې ورغلی و. اوس هم سیند ته د تګ وخت و.

هغه شپه انتونیو لږ ویده شوی و. د شپې تر یوولسو بجو یې لـه خپلې مېرمنې سره خبرې اترې کولې. خوارکۍ "روفینا " هم د مار غوندې پر کټ اوښتله رااوښتله او د تل په شان یې سوچ کاوه چې څنګه به خپل ژوند ښه کړي. د خاوند د کاروبار خوند یې نه و. په ټول دوبي کې یې یو کب هم نه و نیولی. تېر کال د مدیترانې په سمندرګي کې کبان زیات وو. هر ښکاري به دوه درې سوه کبان نیول، پر دوی باندې د باران په شان پیسې اورېدلې، هغه کس به چې د انتونیو په شان عیاشي نه کوله، ځان ته به یې یوه وړه بېړۍ را نیوله او ځان به یې د نورو لـه مزدورۍ څخه ژغوره .

اوس بندر لـه بېړیو ډك شوی و، بېړۍ بېخي زیاتې شوې وې، خو د کبانو درك نه و. د کب نیوونکو په لومه کې به یوازې لوخې بندېدې. د دوی په دېګونو کې به هېڅ هم نه وو. داسې ښکارېدل چې هغه کال، لویو کبانو بل لوری نیولی وي، هېڅ کب نیوونکي ته هغه کال دا ویاړ نه و په برخه شوی، چې لږ تر لږه یو لوی کب ونیسي .

روفینا په خواشینۍ او نهیلۍ کې ډوبه وه. په کور کې یوه انه هم نه وه. دا ډېر وخت کېده چې د نانوای او بقال پوروړي وو.

یوه سپین سترګي وزګاره مانو ( بېړۍ چلوونکي ) سینیور توماس به په یوه لویه چغه ټول کلی خبراوه، دوی ته به یې ګواښونه کول او خپلې هغه پیسې یې غوښتې چې انتونیو د بـېړۍ جوړولو په وخت کې ځنې پور کړې وې. دغې وړې او ښکلې بېړۍ د دوی ټوله شتمني تر ستوني تېره کړې وه.

انتونیو جامې واغوستلې او خپل نهه کلن زوی یې، چې په سیند کې به یې د مشرانو په څېر کار کاوه، راویښ کړ.

روفینا، پرته لـه دې چې لـه ځایه اوچته شي، ورو وویل:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"ګونډې نن بخت ستاسو سره ياري وکړي ! د خوړو غوټه په پخلنځي کې ده. پرون بقال غوښ انکار وکړ، هغه نور پور نه راکوي... خدايه ! څه سپي ژوند مو دی."

انتونيو وويل:

"ښځې ! غلې شه ! که سيند بېرحم دی، خدای خو رحيم دی. ځينو کب نيوونکو ويل چې پرون يې نوي، نوي کبان ليدلي، يو لوی کب زموږ د څو ورځو لپاره بس دی."

په دې وخت کې کب نيوونکي په خيال کې يو لوی کب انځور کړ، چې د نورو کبانو لـه ډلې بېل شوی او د تېر کال د اوبو ځای ته راغلی دی.

کوچني انتونيکو ځان تيار کړی و، په داسې حال کې چې د ده همزولي ماشومان په لوبو بوخت وي او دی په ډوډۍ پسې وځي، زيات مغرور و. د خوړو غوټه يې په شا کړه، د لويو کبانو د نيولو لپاره يې په ځولۍ کې لږ کوچني کبان اچولي وو، چې بيا يې په چنګك کې بند کړي. ځولۍ يې هم په لاس کې واخيسته او روان شول. ګاونډيانو بادبانونه غوړولي او په بېړۍ کې دوی ته په تمه وو .

خـلـکو سـيند تـه ودانـګل. د شپې په تياره کـې څراغونـه بلېدل، په اوبو کې د خلکو انځورونه په لړزېدو وو، د کبانو تورونه د بېړيو لـه څنډو سره لګېدل، د رسيو د غژ، غژ آوازونه اوچت وو، بادبانونه به پورته کېدل او د باد په وړاندې به په ناز، ناز رپېدل.

د کلي وړو سپينو کورونو چې، خلکو د دوبي د تېرولو لپاره جوړ کـړي وو، د سيند تر څنډو ادامه درلوده. د لويو-لويو کورونو کړکۍ به روښانه وې، تابه ويل اور په کې بل دی. سره او سپينه رڼا به يې پر سمندرګي خپرېده. دا د کازينو ودانۍ وه. انتونيو په کرکه وروکتل او ويې ويل :

"شتمن خلك شپې داسې تېروي ! قمار وهي، خپلې پيسې اور ته اچوي. دوی بايد هېڅ وخت د روزي ګټلو لپاره تر سپېدو وړاندې لـه خوبه ونه پاڅي."!

انتونيو بيړه لرله او ويل به يې : ژر شئ ، ژر شئ ! و ګورئ څومره ګڼه ګوڼه ده.

کب نيوونکو رسۍ کش کړې، بادبانونه کرار لوړ وخوځېدل، باد په کې ځای ونيو او په رپېدو شول. څه شېبه مخکې بېړۍ ورو روانه وه او څپې يې غوڅولې، خو کرار، کرار ګړندۍ شوه او د سيند منځ ته يې لار اواروله.

د دوی په وړاندې د شپې تور حجاب خپور و، چې يوازې د ستورو په کمرنګې رڼا روښانېده، د دوی شا و خوا وړې بېړۍ چې تېرې څوکې يې لرلې، د ناپېژندويه موجوداتو د سيورو غونډې روانې وې.

ګاونډي افق ته وکتل او زياته يې کړه:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"انتونيو ! د باد لوری بدلېږي."

" ـ زه يې هم وينم."

" ـ لکه چې هوا توپاني کېږي".

" ـ پروا نه کوي ! همدغه لوری وساته، چې لـه دغو بېړندوکو خلکو څخه ليرې شو."

د دوی بېړۍ، د دې پر ځای چې د نورو په شان د ساحل پر لوري روانه شي، خپله لار ونيوله. سپېدې و چاودېدې، د لمر سترګه د اور د يوه لوی غونډاري په شان په اوبو کې ځلېده، ځپې د اور د لمبو غوندې ځلېدې. انتونيو د ګاونډي شاته ناست و، ماشوم هم په ځير سره سيند ته کتل. د بېړۍ لـه هر لوري څخه سيند ته چنګکونه ځوړند شوي وو. کله- کله به د چنګك رسۍ په لړزېدو شوه، يا به يو کوچنی کب لوړ غورځېده او په هوا کې به ځرخېده....وړو کبانو د ښکار خواړه په غاښول، خو دوی ته به غټ او مناسب کب په لاس نه ورته.

څو ساعته تېر شول، بېړۍ وړاندې تلله، کله به يوې خواته کږه شوه، کله به يې مخامخ پر ځپو ور دانګل او سره سينه به يې ښکاره شوه. هوا توده شوه. کوچنی انتونيکو به تل د بېړۍ خونې ته ورننووت او لـه بوشکې څخه به يې اوبه ځښلې.

د سهار لس بجې به وې، چې ساحل ګردسره لـه سترګو نهام شو، يوازې په هغو ليريو کې د نورو بېړيو بادبانونه د سپينو خيالي کبانو د وزرونو په شان ښکارېدل.

ګاونډي وويل:

"انتونيو ! غوږ کښېږده ! خوښه دې نه ده چې "اوران" ته لاړ شو ؟ دلته خو کبان نه شته او زموږ تم کېدل هم کومه ګټه نه لري."

انتونيو د بېړۍ لوری بدل کړ، پرته لـه دې چې ساحل ته نژدې شي، پر هماغه لوري روان شو. وروسته يې په خوښۍ سره زياته کړه:

"راځئ د غرمې ډوډۍ و خورو ! ملګريه ! د خوړو غوټه راوړه، دلته دې پام وي چې کبان څه وخت د ښکار خواړه خوري."

د هر چا د غرمې ډوډۍ ، يوه ټوټه ډوډۍ او يو پياز و....

په دې وخت کې باد توند شو، بېړۍ په ځپو کې کښته او پورته کېده. ناڅاپه د انتونيکو د چغې اواز پورته شو:

"بابا ! هله هله هغه دی يو کب ! ډېر لوی هم دی."!

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډوډۍ او د پیازو ټوټې د بېړۍ پر سینه تویې شوې، سرېو د بېړۍ لـه څنډې سرونه وغزول. په رښتا چې یو ستر او غوړ کب په ناز- ناز د بېړۍ خواته را روان و. توره او ځلېدونکې ملا یې په اوبو کې ښکارېده. دی به حتمًا هماغه کب و، چې ډېرو کب نیوونکو یې تل په اړه خبرې کولې.

دغه لوی کب په پستو حرکاتو یوه او بل لوري ته کرېده، کله به د بېړۍ په یوه خوا کې څرګند شو، کله به هم د اوبو په منځ کې ورك شو او یو ګړی وروسته به بیا و لیدل شو.

انتونیو لـه خوښۍ او تلوسې څخه سور اوښتی و، د کب نیونې رسۍ یې، چې د بټې ګوتې په اندازه یو کب یې په چنګك کې بند کړی و، اوبو ته خوشې کړه.

ناڅاپه د بېړۍ په شا و خوا کې یو ګرداب جوړ شو، بېړۍ لړه کړه شوه، ته وا چا لاس ورغزولی او هڅه کوي، پر بل مخ یې واړوي. بېړۍ لړزېده. اوازونه ترې پورته کېدل او تا به ویل د دوی لـه پښو څخه تښتي... بېړۍ یو تونډ ټکان وخوړ، خو بېرته په څپو کې روانه شوه.

د کب نیونې رسۍ چې ټینګه تړل شوې وه، سسته شوه، چنګك یې راکش کړ، که څه هم ډېر ټینګ یې تړلی و، خو کب په خپلو غاښونو مات کړی و.

ګاونډي په خواشینۍ سره سر وښوراوه او ویې ویل:

"انتونیو ! موږ ددې کب دښمنان کېږو نه، پرېږده لاړ شي، د خدای شکر پر ځای کړه چې یوازې یې چنګك و ژووه او مات یې کړ. نژدې وو چې بېړۍ پر بل مخ واړوي."

خو د بېړۍ خاوند چغې کړې:

"ته وایې چې دومره لوی کب پرېږدو ؟ ته یې په ارزښت نه پوهېږې ؟ نه ! تو لعنت دې وي پر شیطان ! باید ونه بېرېږو، باید ویې څارو او ورپسې شو."

د بېړۍ لوری یې بدل کړ او هغې خواته یې روانه کړه، چې کب تللی و. د کب نیونې په چنګك کې یې څو واړه کبان بند کړل او اوبو ته یې خوشې کړ. انتونیو پرته لـه دې چې د بېړۍ څنډه پرېږدي، یوه تېره نېزه په لاس کې ونیوله.

د چنګك رسۍ بیا و ښورېده، چې بېړۍ یې هم و لړزوله، د قرچ، قرچ یو ګواښوونکی اواز ترې اوچت شو، دا ځل د کب په خوله کې چنګك بند شوی و، د خپل خلاصون لپاره یې هڅه کوله، بېړۍ یې د ځان خواته راکشوله، پر څپو یې یوه لېونۍ نڅا پیل کړه. تا به ویل چې د سیند اوبه اېشي، یوه خړ رنګه ګرداب، ځـګ لرونکې او غوسه ناکې څپې شا و خوا ته پاشلې. سیند خروښېده، داسې برېښېدل چې تر اوبو لاندې دوه لوی موجودات د ژوند او مرګ پر سر جګړه کوي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته ببړۍ داسې کړه شوه او پر بغل واوښته، چې تا به ویل چا په لوی لاس کړه کړه.اوبه د ببړۍ منځ ته ورغلې او تر نیمایي ډکه شوه، یوه توند ګوزار کب نیوونکي لـه پښو وغورځول:

انتونیو د ببړۍ څنډه خوشې کړه، نژدې و سیند ته و لوېږي. خو په دې وخت کې یې یو آواز تر غوږ شو او لـه دې سره جوخت ببړۍ سمه شوه. کب، د کب نیونې رسۍ وشکوله. کب ببړۍ ته نژدې وګرځېده او په خپله شفافه لکۍ یې ځـګ لړونکې څپې شا و خوا ته پاشلې.

انتونیو وویل:

"غله ! اوس نو نه شې کولای راڅخه و تښتې."

ته وا لـه یوه لوی دښمن سره مخ وي، تېره نېزه یې په زوره د کب خواته ګوزار کړه، اوسپنې د کب سریښناکه او نرم پوست څیرې کړ او د کب په بدن کې ننووت. څپو د وینو رنـګ خپل کړ. تېپي کب د ډبرې په شان د اوبو تل ته کښته شو او په هغه ځای کې د وینو لیکې تر سترګو کېدې چې پورته راختې.

انتونیو یوه اوږده ساه واخیستله. ملګرو ته یې په غور سره و کتل، یوې معجزې ژغورلي وو. که دغې پېښې، چې یوازې څو ثانیې یې دوام وکړ، نور دوام هم کړی وای، نو ټول به اوس د سیند په تل کې پراته وو. کب نیوونکي د ببړۍ لندې سینې ته وکتل. ګاونډی چې د ببړۍ پر دېوال نښتی اورنـګ یې ګردسره الوتی و، وویل:

"ما فکر کاوه چې کار به مو تمام وي! څومره اوبه مې تېرې کړې، لغتي کب"!

بیا یې انتونیو ته و کتل او و یې ویل:

"خو افرین ! ښه نښان دې وواهه، اوس به د اوبو پر سر راشي، ته به یې وینې"....

انتونیو و پوښتل:

"هلك چېرې دی؟"

د پلار په اواز کې د خواشینۍ ازانګه ویده وه، شونډې یې په رپېدو شوې. ته وا د خپلې پوښتنې لـه ځواب څخه وېرېږي. ماشوم په ببړۍ کې نه و، انتونیو په دې هیله چې خپل زوی د ببړۍ په وړه خونه کې ومومي، وړې خونې ته ودانګل، اوبه یې تر زنګنو پورې رسېدې. باید د ببړۍ اوبه یې تشولای. خو، هغه وخت ددې کار نه و، په تیاره کې یې په بیړه وړه خونه و لټوله، خو د اوبو لـه بوشکو او نورو سامانونو پرته یې نور څه ونه لیدل. د لېونیو په شان یې بهر ته منډې کړې:

ګاونډی ایله اوس خبر شو، لاسونه یې وخوځول.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی خو لـه ژوند او مرگ سره دومره فاصله نه درلوده. خامخا به ماشوم د ناڅاپي گوزار لـه کبله بېسده شوی او بیا به تل ته تللی وي.

کب نیوونکي دغه اندېښنه په زړه کې پټه کړې وه او غلی و. هغلته لیرې چې نژدې و د سیند څپې بېړۍ تر ستوني تېره کړي، پر اوبو کوم څیز برېښېده.

انتونیو چغې کړې:

"هغه دی، هغه خپله دی"!

ځان یې اوبو ته واچاوه او په ټول ځواك سره یې د هغه شي پر لوري لامبل پیل کړل.

گاونډي په بیړه بادبان راکښته کړ.

کله چې بدمرغه پلار ډاډه شو چې هغه تور شی یوازې د انتونیکو یو بوټ دی، چې څپو د سیند منځ ته غورځولی، ناڅاپه یې ځواك ختم او غړي یې بې سېکه شول. په چغو یې ځان د څپو لـه حملو څخه ژغوره او هڅه یې کوله چې ډېر ژر د سیند تر زیاتې برخې واوړي. خو شا و خوا یې یوازې اوبه وې، یوازې یې په سیند کې بېړۍ لیده، چې دده پر خوا را روانه وه....

ناڅاپه د اوبو لـه منځه یو تور شی، چې په وینو لړندو څپو کې تاوېده را تاوېده، را بهر شو. دغه شی مړ کب و.... دغه ښکار انتونیو ته گران پرېوتی و. خپل یوازېنی زوی کوچنی انتونیکو یې د هغه لـه کبله لـه لاسه ورکړی و. ای مهربانه خدایه ! ایا یوه ټوټه ډوډۍ باید په همدومره بیه تر لاسه شي؟ انـتونیو تر یوه ساعته زیـات پـه سیند کې و. په پرلـه پسې ډول یې لامبل او په خپلې ورکې پسې گرځېده. د هرې څپې د غړ په اورېدو به یې گومان کاوه چې همدا اوس به یې د زوی مړی د اوبو سر ته رابهر شي. هره شېبه یې گومان کاوه چې د انتونیکو مړی به د اوبو په منځ کې، ده ته نژدې کښته پورته کېږي. خو تورو او تیارو څپو به تېر ایست.

انتونیو غوښتل په سیند کې پاتې شي او لـه خپل زوی سره یو ځای ومري، خو ملگري لـه اوبو څخه راوایست. د بېړۍ په منځ کې یې څملاوه او ویې پوښت:

"انتونیو ! څه باید وکړو؟."

انتونیو ځواب ور نه کړ.

"گرانه دوسته ! ځان باید لـه منځه یو نه سې. زموږ ژوند همداسې دی، بله چاره نه شته. ماشوم په سیند کې ورك شو، زموږ نیکونه او پلرونه هم همله مره شوي او موږ به هم یوه ورځ همداسې، همدلته مرو.!

خو ژر یا وروسته کوم توپیر لري ؟ اوس باید کار بشپړ شي. هېره دې نه شي چې موږ نېستمن او تشلاسي خلك یو."

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا یې په دوو تناوونو کب وتاړه او په بېړۍ پسې یې ټینګ کړ. په بېړۍ پسې د وینو یوه لیکه جوړه شوه. باد لـه مخامخ لوري لګېده، بېړۍ درنه شوې وه او په سختۍ سره وړاندې تله. بېړۍ چلوونکي او ګاونډي د بېړۍ د اوبو په تشولو لاس پورې کړ، ته وا دغه لویه بدمرغي یې هېره شوې وي. په دې کار سره بېړۍ نوره هم ګړندۍ کېده. ستونزمن کار، انتونیو ستړی کړی و، کنـګس و. خو په پر له پسې ډول یې تر سترګو د اوښکو څاڅکي بهېدل او په بېړۍ کې لـه راغونډو شویو اوبو سره ملګري کېدل، وروسته د انتونیکو قبر ته تویېدل!

کله چې بېړۍ لـه اوبو څخه تشه شوه، په بېړه روانه شوه، نور نو د ډوبېدونکي لمر په رڼا کې سپین کورونه او د ساحل بل لوری ښکارېده.

دغې سپېرې منظرې د انتونیو درد او وېره نوره هم زیاته کړه. لـه ساړه آه سره یې وویل:

"زما مېرمنې روفینا ته به څه وایم، هغه به څه وایي؟"

لـه مېرمنې سره د چلند اندېښنې د هغه پر اندام لړزه خپره کړه. دی هم د نورو زورورو خلکو په شان په خپل کور کې یوازې د یوه غلام غوندې و.

د مازیګري باد، خوندوره نڅا پر سیند خپرېدله، هغه باد چې د ساحل لـه لوري لګېده، د ځینو شتمنو او بډایو خلکو سندرې، د تهنیت د درود په شان پر سیند خپرېدې. د "کازینو" د ساحـل پـر مـخامـخ د سندرغاړو یوې ډلې سندرې ویلې. د ساحلي واټونو په بهیر کې، چې شا و خوا یې ونې ولاړې وې، وربښمین چترونه، ښایسته خولۍ، د کلیوالو سپین او روښانه کالي، لـه لیرې د تسپو د رنګینو دانو غوندې ښکارېدل .

ماشومانو په سپینو جامو کې هرې خواته ځغستل، توپبازي یې کوله، یا به په نڅا- نڅا سره راتاوېدل او بیا به سره یو ځای شول.

ساحل ته نژدې، کب نیوونکو ګڼه ګونه جوړه کړې وه، د دوی تېزبینو سترګو، دا اټکل کولای شوای، چې د انتونیو بېړۍ څومره ارزښتناك ښکار په ځان پسې راکاږي. خو انتونیو یوازې یو کس لیده. هلته یوه دنګه ښځه ولاړه وه، چې سر یې لوڅ و او باد یې لمن ښوروله.

بېړۍ ساحل ته ورسېده. د خوښۍ چغو او ولولو یې هر کلی وکړ. هر چا غوښتل چې لوی کب لـه نژدې څخه وګوري. د انتونیو ښکار ته حسودې او رخه ګرې سترګې وګنډل شوې .

د نېستمنو خلکو ماشومان چې شوړېدلي کالي یې وو، سور رنګه اوبو ته واوښتل، چې د کب لکۍ په لاس کې ونیسي.

روفینا د خپل خاوند خوا ته وکتل چې سر یې لاندې اچولی و او د نورو کب نیوونکو مبارکیو ته یې غوږ نیولی و، ویې پوښت:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"هلك چېرې دی ؟ زموږ ماشوم چېرې دی؟"

سرې خپل سر نور هم کښته و نیو، د خپلو اوږو تر منځ یې کښېکاږه، ته وا غواړي چې په ځمکه کې ننوځي او ورك شي، نه شی ووینې، نه یې واوري. خو روفینا بیا وویل:

"نو انتونیکو چېرې دی؟"

هغې بیا خپلې سرې او راوتلې سترګې د خپل خاوند په څېره کې وګنډلې، لـه ګرېوانه یې و نیو او په خپل ټول قوت سره یې ټکان ورکړ، خو څه شېبه وروسته ناڅاپه تر شا لاړه، لاسونه یې سیده کړل او په نهیلۍ سره یې یوه لویه دردناکه چغه وکړه:

"یا عیسی بن مریمه ! زما انتونیکو ډوب شو ! مړ شو ! په سیند کې پاتې شو"!

آخر خاوند یې، په داسې حال کې چې ژبه یې بنده، بنده کېده او په سختۍ سره یې توري په خوله راوړل، وویل:

"هو ګرانې مېرمنې ! زموږ ماشوم ډوب شو، لکه څنګه چې نیکه یې ډوب شوی و او زه هم ډوبېږم. د سیند څپو هغه تر ستونې تېر کړ. سیند موږ ته روزي راکوي. دی هم په موږ تغذیه کېږي. چاره څه ده ؟ ټول د دې لپاره دنیا ته نه راځي، چې واکمن شي."

ژړا یې په ستوني کې غوټه شوې وه، تر سترګو یې د اوښکو سېل روان و. خو ښځې ورته غوږ نه و نیولی، بلکې په ډېره خواشینۍ او نهیلۍ سره پر ځمکه اوښتله- راووښتله، خپل پرېشانه وېښتان یې راکشول او په نوکانو یې مخ شکاوه، په ژړا- ژړا کې به یې ویل:

"زما زوی انتونیکو"!

ګاونډیانو او د کب نیوونکو مېرمنو، د روفینا خواته وځغستل. څه لـه پاسه ټول یې لـه دغه ډول مصیبت او غم سره مخ شوي وو....په خپلو قوي لاسونو یې هغه لـه ځمکې راپورته کړه او کور ته یې بوتله.

یوه کب نیوونکي انتونیو ته چې نه یې شول کولای د ژړا مخه ونیسي، یو جام شراب ورکړل. ګاونډی چې په عادي ځانپالنه کې ډوب و، لـه پېرودونکو سره د کب پر سر په چنه وهلو لګیا و....

لمر لوېدلی او سیند طلایي رنګ خپل کړی و، څپو ځان لـه ساحل سره واهه او یوه دردناکه زمزمه یې اوچتوله. د یوې بدمرغې مور د چغې اواز، چې د زوی تر مړینې وروسته د لېونتوب تر پولې کښل کېده، اورېدل کېده، چې د نورو کب نیوونکو د مېرمنو آوازونو یې هم ملګرتیا کوله:

"انتونیکو زویه"!

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو نېکمرغه خلك په ښکلو او پاکو جامو کې تر ونو لاندې ګرځېدل راګرځېدل، په کړس- کړس به يې خندل. آن دې ته هم متوجه نه شول چې دوی ته نژدې ځومره لويه بدمرغي پېښه شوې ده، د دوی غميزې او نېستۍ ته يې يو نظر هم وا نه چاوه.

د سندرغاړو سندرو د سمندرګي پر مخ نڅا کوله او په خپل شهوتبارې بڼې سره يې د سيند ابدي ښايست زياتاوه.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ويکتور هوګو

## خواران

يوه توره توپاني شپه وه. د رود ترځنګ په زاړه او ځانته کور کې، چې منځ يې لږ څه تت ښکارېده، يوه خوا د کبنيونې جال پر دېواله راځوړند و، بل خوا پر کټ پنځه ماشومان تر برستنې (تلتك) لاندې ويده وو. د منقل سره او رېږدېدونکې رڼا پر چت خپره وه. د ماشومانو مور چې د کبنيوونکي مېرمن وه، خپل سر د ماشومانو پر کټ ايښی و. ورو يې دعا کوله، خواشينوونکو خيالونو او وېروونکو فکرونو ورڅخه ارامي اخيستې وه. هغه يوازې وه او په ډېر ځراکت سره يې د بهر شر و ځوږ ته غوږ نيولی و. وېرې او وحشت يې اروا ځوروله او زړه يې رېږدېده. د کور تر شا قهرجن رود غړمبېده. توپان ټول څيزونه په خپلو منګولو کې مروړل. ځان يې په سپينو ځګونو له پوښل شويو څپو سره پر ساحل واهه. د رود له ځوږ او د توپان له چغې څخه غمجنتوب او ژړا احساسېده. د دې کور خاوند يو کبنيوونکی و، چې هغه مازيګر هم د ښکار لپاره د سمندر غاړې ته تللی و او تر اوسه بېرته راګرځېدلی نه و. ډېر مهال کېده، چې له توپان سره لاس و ګرېوان و او له څپو سره يې ډغرې وهلې. هغه له ماشومتوبه اړ شوی و، چې د ژوند هر فرمان ته غاړه کښېږدي او د کبنيونې خطرناکې دندې ته دوام ورکړي. له هغو شپو څخه ډېر وختونه تېر شول. دی هم له دې وحشتناك او له اخ و ډبه ډك ژوند سره عادت شو. په توپاني او باراني هوا کې که کنګل به هم و، د سيند غاړې ته يې ځان رساوه. ته وا مرګ ورته يوه ډېره عادي پېښه ښکاري او هېڅ څيز هم ورته ارزښت نه لري. له ځانه سره يې وويل :

"زما ماشومان ډوډۍ غواړي، زه بايد له توپانه ونه وېرېږم. بايد لاړ شم، له توپان او خروښنده څپو سره وجنګېږم."

له همدغو سوچونو سره به په بېړۍ کې کښېناست. په ناپايه سمندر او توپانونو کې به ورګډېده، دا څومره زړورتيا غواړي، چې انسان وکولای شي ځان د سمندر په څپو کې ورګډ کړي او ورسره شخړه وکړي. دا څومره ستونزمنه ده، چې څوك دې له توپان او څپاند سمندر سره ډغره ووهي. د دې کار لپاره ډېره تجربه په کار ده، بايد ځواکمن مټ ولرو. د توپان پر مهال ځينې د ښامار غوندې څپې د بېړۍ له څنډو څخه ولاړېږي. دا به د باد وېره وي، چې څپې چغې وهي او سپين ځګونه رابرسېره کوي.

د کبنيوونکي مېرمن "ژاني" لا ويده شوې نه وه. که څه هم خوب ورته، خو نه يې شول کولای، هغه په اندېښنو او دردونو کې راښکېله وه او ارام ته يې نه پرېښوده. د توپاني شپې چغې او ځوږونه يې اورېدل او دېته يې اړ ايستله، چې ان واړه غږ ته هم غوږ ونيسي. کله به يې د سمندري مرغانو وچ او وېروونکی غږ تر غوږ شو او د هغې په نظر

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې به يې خاوند انځور کړ، چې پر خپله ببړۍ ناست او د سمندر په خروښنده څپو کې به کښته پورته خوځي. "ژاني" خپل سر د ماشومانو پر کټ تکيه کړ او په ژره خواشينۍ کې ډوبه شوه.

له ځانه سره يې سوچ کاوه، چې له نېستۍ او فقر سره ژوند څومره ګران دی. له مفلسۍ سره يو کېدل ناشونی کار دی. موږ د دغو ستونزو پر زغملو سربېره ايله دومره توانېدلي يو، چې د جو ډوډۍ وخورو. د کور د ټولو غړو پښې لوڅې دي. بايد ټول ژوند له محروميت او ماتې سره تېر کړي. له نېستۍ سره مبارزه وکړي، خو ولې او د څه لپاره؟

د توپان له ډېرېدو سره جوخت سمندر هم غړمبېده. هره ګړۍ به څپې د غره په شان پر ساحل اوښتې او ړنګېدې به. کله- کله په پر سمندر کوم ستورى د پښې له کورې څخه په لوګيو کې د الوتي بځري غوندې ځلېده او پناه کېده.

شپه نيمايي ته ورسېده، پر دې مهال به خامخا نېکمرغه او شتمن خلك په خوښۍ سره په عيش او نوش، نڅا او پايکوبونو بوخت وو. خو د کبنيوونکي څه حال و؟ هغه خوار په الوتې څېره د خرمنې بالاپوښ پر ځان تاو کړی او په ناپايه تيارو کې د خپل برخليك په انتظار کې پر ببړۍ ناست او پرمخ روان دی. خو ساحل نه ښکارېده. د هغه د بدمرغې مېرمن (ژاني) په نظر کې وېروونکي انځورونه او منظرې يو په بلې پسې ژوندۍ کېدې. زړه يې د وېرې په منګولو کې راښکېل و. له سترګو څخه يې اوښکې بهېدې، خدايه! څومره ډېر کبنيوونکي د سمندر په نس کې ښخ دي، هغوی هم د اوس په څېر په توپاني شپه کې تللي او بيا هېڅ بېرته راګرځېدلي نه دي.

ژاني پانوس راواخيست، دا ګومان يې وکړ، چې د خاوند د هرکلي وخت يې رارسېدلی، له ځانه سره وبونګېده:

"سمندر تر اوسه ارام شوی نه دی. اوس به رڼا وي، توپان به کرار شوی وي. لاړه به شم وبه ګورم، چې د پېره داره برج روښانه دی که نه."

له کوره ووته. لمر خاته ته لا ډېر وخت پاته و. د رڼې سپوږمۍ رڼا پر ټول سمندر خپره وه. سمندر تر پخوا زيات غړمبېده، باران هم په اورېدو و. ژاني په ډېرو ستونزو د ړندې په څېر وړاندې تله. کور په تيارو کې ډوب شو. نه په کې کوم څراغ بلېده، نه هم کومه رڼا ښکارېده. توند باد له سوري- سوري بام څخه په چټکۍ سره تېرېده او چغې يې وهلې. ته وا غواړي کوټه پر بل مخ واړوي. ژاني يوه شېبه ودرېده او سوچ يې وکړ، چې دا خو زما د ناروغې ګاونډۍ کور دی، بدمرغه ښځه په داسې شپه کې هم يوازې ده، وربه شم. ځکه مرستې ته اړتيا لري. رښتيا د بدمرغۍ او ژوند سوچونو ببخي راڅخه هېره کړې وه. خاوند مې پرون ويل، حال يې ډېر خراب دی. خامخا به يې وګورم. ور يې په زوره وډباوه، خو کوم ځواب يې وانه ورېد. له ځانه سره يې وويل:

"زړه مې پرې سوځي، هغه هم زموږ غوندې څه، چې تر موږ دېره نېستمنه ده. ماشومان يې بل څوك نه لري، د خوړو لپاره به هم څه نه لري. دا يوازې خواران دي، چې پر يو بل يې زړونه سوځي."

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وره له ډبولو سره يې نارې کړې، ګونډې څوك يې واورې او ور پرانيزي. خو غږ يې د توپان په غړمبارې او ځوړونو کې ورکېده. په ډېرو ټکولو يې ناڅاپه ور پرانيستل شو. کور ته ننوته. تياره خونه يې په خپل پانوس روښانه کړه، خو له لومړي ګام سره پر خپل ځاى ودرېده. د ګاونډې مېرمن په يوه کونج کې پرته ده، پښې يې يوځه راټولې وې، خوله يې خلاصه ښکارېده. مظلومه ارواه يې له بدنه وتلې وه. تر دومره ډېرو مبارزو وروسته يې همدغه سوړ بدن پاتې و، دوه ماشومان يې تر څنګ ويده وو. هغې پر خوب پر وخت پر ماشومانو خپل شلېدلى او زوړ څادر غوړولى و. ژاني په ډېره خوارى پر لار تله. زړه يې درزېده، پښې يې رېږدېدې، په وېرې سره يې شا و خوا ته کتل. کله چې خپل کور ته ورسېده، د کټ تر څنګ پر وړه څوکۍ کښېناسته، لا هم د خپل خاوند په سوچ کې وه. غمونو او انديښنو بيا پرې يرغل وکړ. نږدې و، چې زړه يې له غمه ودرېږي. له خولې څخه يې بې مانا او بې اړيکې خبرې راوتې. بيا يې له ځانه سره وويل:

"دا مې څه وکړل، د خپل خاوند غم او دردونه مې لږ وو؟ هغه زما او د ماشومانو لپاره دومره خوارى کوي، اوس دا دوه نور هم پرې ورزيات شول، واه خدايه! لکه چې خاوند مې راغى. نه! هېڅکله! ګومان کوم، همداسې مې وانګېرل، هېڅوك نه شته. بده ورځ راغلې، موږ خپله د خوړو لپاره څه نه لرو، څومره بد کار مې وکړ. ما څه کولاى شواى، خاوند به مې خامخا وهي، زه پوهېږمه. زه د وهلو- ټکولو وړ يمه... لکه چې راغى. نه! دا د باد غږ دى. خدايه! څومره ساده يمه، ټوله شپه يې په بېصبرۍ او انتظار کې تېرومه او اوس يې په راتلو وېرېږم. هغه ستړې وه، خپل سر يې پر خپلو لاسونو کښېښود او په ناکراره خوب کې ډوبه شوه. نور نو د سمندر د غړمبا او د باد چغارې نه اورېدل کېدې. يو زورور لاس ناڅاپه د کوټې ور پرانيست، له وره څخه د سبايي کمرنګه رڼا کوټې ته راننوتله. له دې رڼا سره کبنيوونکى راننوت او نارې يې کړې:

"راغلم"!

ژاني ويښه شوه، په خوشحالۍ له ځايه رااوچته شوه او لاسونه يې د هغه پر غاړه ورتاو کړل. کبنيوونکى يې سترګو ته ځير شو. ژاني په ژړغوني غږ وويل:

"راغلې! جوړ خو به يې؟ ښکار دې وکړ..؟"

" ــ ښکار نه و، پارو مې له لاسه ولوېد، جال ځيرې شو. نږدې مړ شوى وم. څه وکړو، ماشومان ښه دي؟ څومره بده هوا ده، نږدې و چې ډوب شم. څو وارې د مرګ خولې ته ولوېدم، يوازې دې څه کول؟."

" ــ تا ته مې کتل، يوه شېبه مې خياطي وکړه، نږدې و له وېرې مړه شم. تا ته ډېره انديښمنه شوم. سمندر ټوله شپه وغړمبېده. ماشومان ټول ښه دي. پوهېږې څومره بده پېښه شوې، سهار د ګاونډې کور ته لاړمه، هغه بدمرغه تېره شپه مړه شوې. ماشومان يې يوازې پاتې دي."

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ژاني رنګ د خبرو پر مهال اوښت- رااوښت .

خپلې جملې يې بشپړولای نه شوې، له وهلو وېرېده، لکه کوم بد کار چې يې کړی وي. بيا يې وويل :

"ډېر واړه دي، مشره لور يې ايله اوس په ګرځېدو راغلې."

کبنيوونکی په سوچ کې لاړ، اخر يې وويل:

"د بدمرغو څومره بد برخليك! خامخا به له منځه لاړ شي، څوك به يې وروزي؟ د کلي ټول خلك نېستمن دي، خپله خو څه نه لري، چې ويې خوري. زه يې په ورين تندي منم، خو موږ په خپله پنځه ماشومان لرو... څه وکړو؟"

خپله لنده خيشته خولۍ يې يوه ګوټ ته ګوزار کړه او دوه واري يې تر شونډو لاندې وويل :

"د کوتريو (کونګريو- کوکريو) غونډې به مړه شي. اخر موږ هم انسانان يو."

خپل غږ يې لوړ کړ:

"ژاني! ورشه راپې وړه، ډېر به وېرېدلي وي،مور به يې هم د مړينې پر مهال ويلي وي، چې موږ به يې يوازې نه پرېږدو. زه يې منم، خدای به د هغوی په برکت ډېر ښکار راپه برخه کړي. لوی به شي، له موږ سره به مرسته وکړي."

ژاني په داسې حال کې چې د کټ په وراندې په ګونډو شوه او د خوښۍ اوښکې يې له سترګو تويېدې، څادر يې ليرې کړ او يې ويل:

"دغه دي ډېر وخت کېږي، چې دلته دي."

د ژباړې نېټه: 16/7/1379ل کال

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخځ: شیرین ترین داستانهای واقعی،

راټولوونکی: فریدون پور حسین،

## ړنده پیشي

په ډېرو ستونزو مې ماشومان ویده کړل. که څه هم د هغوی له حرکاتو مې زیات خوند واخیست، خو بیا یې هم له خېزونو، شوخیو او شورماشور څخه ستړی شوم.

ښه شو چې ماشومان ویده شول. ځکه چې په دې ستړې روحیې سره کېدای شول ډېر په تنګ شم، یا یې ووهم او وروسته پښېمانه شم.

ما یې مور په بېځایه نیوکو او وړو خبرو ډېره وځوروله، نو ځکه مجبوره شوه چې ماشومان او کور پرېږدي او د خپل پلار کره لاړه شي. انسان خو حساس موجود دی، تر کومه حده د نورو خلکو ترخې خبرې وزغمي؟ اخر د دې بدمرغې ښځې ګناه څه وه؟ ایا دا په هغې پورې څه اړه لري، چې زه نیمګړی شوم؟

دا د هغې غوښتنه وه؟ ایا هغې په ما کې دا نیمګړتیا رامنځته کړه؟ نو بیا مې ولې دومره بده وضعه ورسره وکړه، چې اخر کور پرېښودو ته اړ شوه؟

هی، هی! انسان چې تر کومه وخته پورې له کوم نعمت څخه برخمن وي، په قدر یې نه پوهېږي، کله چې یې نعمت له لاسه ورکړ، بیا ورته متوجه کېږي. سمه ده چې زه خپله ګناه منم، خو هغې باید خپل ماشومان او زه، نه پرېښوداې.

هغه هم داسې مېږه، چې یو کال یې د سترګې له ړندېدو څخه تېرېږي.

نیمګړتیا که هرڅومره وړه هم وي، پر روحیې اغېز اچوي او د انسان طبیعت اغېزمنوي. تر دې چې انسان ورسره عادت شي.

د ساري په توګه زه بدمرغه کله- کله خپله ړنده سترګه له یاده باسم. خو کله چې ناڅاپه په هنداره کې خپله څېره ووینم، نو د غم او خواشینۍ له کبله د مار غوندې تاوېږم، په هډوکو کې مې سره شوي سیخان تېرېږي .

څو کاله وړاندې مې چې واده نه و کړی، په کور کې مو یوه پیشي اوسېده، چې ډېره مینه مې ورسره درلوده. نه پوهېږم څه پېښه وشوه چې هغه پیشي هم په یوه سترګه ړنده شوه!

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو زما ښه یادېږي، کله چې پیشي ړنده شوه، ما چې څومره ورسره مینه لرله او د هغې د ساګانو له خور- خور څخه به مې خوند اخیست، تر دې وروسته زما ورځخه کرکه کېده. نور مې نه خوښېدل چې د پخوا په شان یې ونازوم، کله چې به یې خپله نرمه او پسته لکۍ زما پر شا راتېروله، ناراحته کېدم به .

زما کرکه به هغه وخت لا زیاتېده، چې غوښتل به یې خپله ټوله مینه په خپله روغه سترګه کې منعکسه کړي. په دې وخت کې به مې ترې کرکه کېده او د لېونتوب په یوه حالت سره به مې هغه له ځانه شړله.

اوس د ځان په اړه هم همدا فکر کوم. ښایي زه به هم نورو ته د کرکې وړ شوی یم. په ځانګړې توګه چې کله خلکو ته ورنژدې کېږم، خامخا مې مینه له یوې سترګې څخه سرچینه اخلي، ګومان کوم چې په لیدو مې سترې کېږي. له دې کبله وېرېږم، نو ځکه له خلکو سره سوړ او بې مینې چلند کوم. په ځانګړې توګه له خپلې مېرمنې سره، چې تر ټولو راته ګرانه ده.

زما ړندېدل هم په خندوونکي ډول وشول، دا موضوع له شوخۍ پرته په بل څه نه شو تعبیرولای.

اوس دا دې نهه میاشتې کېږي، چې خپله یوه سترګه مې له لاسه ورکړې. پر دې سربېره مې د هغه لعنتي سفر یاد تل اروا او جسم ځپي، اوس هم ګومان کوم چې په هماغه سفر کې یم. لکه د هغه دوه میاشتني سفر ټول جزییات مې چې له پیله تر پایه په مغزو کې د کوم حساس دوربین په مرسته عکاسي شوي دي. تل د هغې پېښې په سوچ کې یم، هر ځل تر پخوا لا حیرانېږم او غوسه راځي.

ښه مې په یاد دي: یوولس میاشتې مخکې ډاکټر "ژ" وبللم په پنډ او مینه ناك غږ یې وویل:

"ګرانه دوسته! ته غواړې چې په یوه لیرې پرته سیمه کې د چیچك ناروغۍ د مخنیوي لپاره لاړ شې، ښه حق الزحمه هم درکول کېږي؟."

که څه هم پوهېدم چې هغې سیمې ته سفر زیات ستونزمن دی، خو د اوږدمهالې غریبۍ له کبله مې ومنله.

درې ورځې وروسته مې د سفر تیاری وکړ .

هغه ورځ نېکمرغه سړی وم، چې یوازې مې د خپلې ځوانې مېرمنې او ماشومانو لپاره غوښتل دغه ستونزمن سفر وکړم. ګوندې مالي امکانات تر ګوتو او د هغوی هیلې ورپوره کړم.

هو! زړه مې غوښتل چې د خپلې مېرمنې په سترګو کې هغه پټ شوي هوسونه، چې ما به لوستل، خړوب کړم. که هر څنګه وي، یو ځل یې هوساینهووینم.

هغه ورځ خوشحاله او خوابدی په یوه زاړه بس کې د هغې سیمې پر لوري روان شوو.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خدای مخلوق ته د نېکۍ لپاره او له لرې حق الزحې څخه استفاده، دغه راز په هغه تور دوزخ کې اوسېدنه په ما پورې اړه درلوده.

څومره سختې ورځې مې تېرې کړې، خوارۍ مې وکړې، له خلکو سره مې مینه وښووله.

نه پوهېږم، ولې یې ویلي، چې:

که دې ښه وکړل، ستا په ښه به درځي.

په ښوونځي کې مې هم دا شعر لوستی و او د ښوونکي پر مانا او تشرېح مې هم باور درلود:

هـــغـــه زړه بـــه لـــــه تـــوپانـــه په امـــان وي

چې کښتۍ غوندې د خلکو باربردار شي

خو اوس پر ټولو شیانو شك کوم. که د دغه شعر مضمون حقیقت ولري، نو ما تر څان بدمرغه خلکو ته څه بد رسولي، چې ښۍ (راسته) سترګه مې په ناڅاپي ډول ړنده شوه؟!

ژړا مې ستونی نیسي، کرار- کرار مې لمن په اوښکو ډکېږي. سمه ده چې د هغه ستونزمن کار په بدل کې مې مزد ترلاسه کاوه، خو هغه مزد او پیسې زما د کار په وړاندې ډېرې کمې وې.

په هغه کلي کې مې ډېرې شپې روڼې کړې، په هغو غلیو او وېرونکو کلیو کې مې ډېرې شپې د دردمنو خلکو سر ته تېرې کړې او د هغوی د روغتیا د بیا ستنولو لپاره مې سترګې سره ورنغلې. خو د دې شعر دا بیت زما په اړه ډېر صدق کوي:

"هغه زړه به له توپانه په امان وي"...

اوس باید د هغې روڼې سترګې پرځای باندې د ښیښوکوم غټۍ کښېږدم، چې دغه تیاره او بدرنګه کنده وربانديې ډکه شي.

هغه سهار، چې غرمه مهال یې د تقدیر لاس دغه دردوونکې پېښه وکړه، ډېر ساعتونه مې خولې تویې کړې، ډېرو ماشومانو او سپین ږیرو ته مې د ړندېدو او مړینې له خطر څخه د ژغورنې لپاره پېچکارۍ ولګولې .

هېڅ مې نه هېرېږي، کله چې مې د وروستي ځل لپاره ناروغان وشمېرل، څلور ماشومان پاتې وو، خپل مرستیال ته مې وویل چې د یوه کپسول سر پرانیزي، چې زه یې هغوی ته ولګوم، بیا د غرمې ډوډۍ ته لاړ شو .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرستیال مې ښینښه راوایسته، د ښیښې څنګ یې په وړې ارې لږ وګوراوه، بیا یې کرار- کرار ټك ورکاوه، چې لاس یې خطا شو، د ښیښې سر د دې پرځای چې پرځمکه ولوېږي، زما په راسته سترګه کې ننوت او چغې مې اسمانونو ته پورته شوې.

دا پېښه دومره ترخه او دردوونکې وه چې دا دې څو میاشتې وروسته مې هم د هغې په یادولو سره خوله او ستونی وچ او تریخېږي.

زما خوارکي مرستیال په وېرې- وېرې د ښیښې هغه ټوټه، چې د ستن غونډې زما په سترګه کې ننوتلې وه، راوایسته، خو کار له کاره تېر و. همغه ساعت مې خپل سامان راټول کړ، سره له دې چې لار اوږده وه، بیا هم د درملنې په هیله مرکز ته روان شوو. خو څه ګټه؟

څو ورځې وروسته یې زما د سترګې له کسي څخه هغه وېروونکې تناکه وایسته. څه وخت لا نه و تېر شوی، چې په دېرش کلنۍ کې، یوازې د ځوانۍ په پسرلي کې د تل لپاره د یوې سترګې له رڼا او نعمت څخه بې برخې شوم.

هو رښتیا هغه شعر زما برخه کې ډېر ښه صدق کوي.

☒☒☒

د مېرمنې ځای مې تش دی، خو نه... بېځایه خپلو احساساتو ته تسلیم شوی یم. نور به هغه څوك نه یادوم، چې تر یو عمر مینې او محبت وروسته یې خپل خاوند او ماشومان یوازې پرېښوول، خپل داسې خاوند یې یوازې کړ، چې یوازې یو څو میاشتې یې له ړندېدو څخه تېرېږي.

ماشومان ویده شوي دي... هی... څوك دی؟ لکه چې د وره غږ دی. ودرې ښه غوږ ونیسم... یه.... تېروتنه نه کوم. څوك کرار- کرار دروازه ټکوي. ډېره کراره یې ټکوي. ښایي زما مېرمن وي!

دا په خپله هغه ده. وېرېږي، چې په دې نیمه شپه کې یې نازنین ماشومان راویښ نه شي. ښایي دا احتیاط به د خپل بېګناه خاوند لپاره کوي.

ای خدایه! څومره ښه شول، چې راغله. زړه مې هوسا کېږي. بیا به ورسره بد چلند نه کوم، هڅه کوم چې هر وخت راڅخه راضي او خوشحاله وي. اوس به ورته په زبات ورسوم چې څومره مینه ورسره لرم. ور پرانیزم په ډېره مینه یې پر خپل ټټر کښېکاږم، سر او مخ یې ورمچوم .

ښه! ژر به رااوچت شم او د وره لاستی به تاو کړم .

اه خدایه! څوك، د وره تر شا څوك نه شته.

خو دا لعنتي پیشي چېرې وه، چې ناڅاپه یې په خپل کرکجن غږ سره کور ته ټوپ کړل؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه ځم چې دباندې یې وباسم، ای بدجنسې، ای لعنتي پیشي! دا ته وې چې ور دې ټکاوه؟ اوس دې دباندې باسم.

اه خدایه! څومره ښه هوسا پر کټ پرته ده. خو داسې ښکاري لکه یوه سترګه چې یې عجیب حالت لري. داسې نه چې په خپله وي. اه خدایه! دا خو مې خپله پخوانۍ پیشي ده، اوس راستنه شوې، هماغه ړنده پیشي، هماغه حیوان چې ما ترې کرکه لرله.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## رهنورد زریاب

## عکس

اووه کلن وم، هره ورځ به چې له لارې تېرېدم، نو یو سپينږیری عکاس به مې لیده چې دېواله به يې ته نژدې په پیاده رو کې خپله زړه کمره درولې وه، خپله به هم پر څمکه ناست و او په چورتونو کې به ډوب و. د هغه کمره یوې صندوقچې ته ورته وه چې درې اوږدې پښې يې درلودې. یوې خوا ته يې یو سوری و چې هنداره وربانديې نښلول شوې وه، هغه وړکوټی سوری به تل په یو تور کاغذ چې خولۍ ته ورته و، پوښل شوی و. د صندوقچې راسته خواته لستوڼي ته ورته ټوکر راځړوند و.

کله- کله به مې لیدل چې سپينږیری عکاس کار کوي، د چا عکس به يې اخیسته، پر دې مهال به هغه سړی چې عکس به يې اخیستل کېده، دېواله ته د راځړول شوې توري پردې مخې ته پرځوکۍ کېنېناست. سپينږيري عکاس به وړې کړکۍ ته سترګې ورنژدې کولې، د هنداري له سوري څخه به يې وړه خولۍ لیرې کوله او پر دې مهال به يې هغه سړي ته ویل:

"سر دې څه لوړ ونیسه... لږ کښته... نه، لږ لوړ.. زما لاس ته وګوره، همداسې واوسه."

ما به دغو ټولو کارونو ته په حیرانۍ سره کتل او له ځان سره مې ویل:

"په دې صندوقچه کې به څه وي؟"!

هرڅه چورت چې به مې واهه، ځان ته به مې ځواب نه شو موندلای.

څو شېبې وروسته به مې لیده چې سپينږيري به یو لوند کاغذ راکښه او پر دې کاغذ به د هغه سړي عکس ښکارېده، چې څو دقیقې مخکې د سورۍ لرونکې کړکۍ مخې ته ناست و. زه به نور هم حیرانېدم.

یوه ورځ دغه عکاس ته ورغلم او ومې ویل :

"زما عکس اخلې؟"

هغه په خندا سره ځواب راکړ:

"ولې نه."

" -څو غواړې؟"

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



" -نیمی وي وي، که سرترپښو؟"

" -سر تر پښو."

" -یوه قطعه وي؟"

" -هو – یوه قطعه."

" -لس افغانۍ."

تر هغې وروسته مې د خپلو پیسو په راټولولو پیل وکړ. غوښتل مې چې لس افغانۍ پوره کړم او خپل عکس واخلم. ډېرې ورځې تېرې شوې چې ما دا پیسې پوره کړې. یوه ورځ مې ټوله ذخیره لسو افغانۍ ته ورسېده. افغانۍ مې په جېب کې واچولې او سپینږیري عکاس ته لاړم، کله چې یې ولیدم داسې ښکارېده لکه زما په تمه چې وي. ویې پوښتم:

" -راغلې؟."

پیسې مې ورکړې او ومې ویل:

" -لس افغانۍ دي."

پرته لـه دې چې ویې شمېري، جېب ته یې واچولې.

" -ښه، اوس راشه دلته ودرېږه."

د تورې پردې مخې ته پر څوکۍ ودرېدم. د هنداري لرونکي سوري خولۍ یې لیرې کړه او خپله یې خپلې سترګې کړکۍ ته ورنژدې کړې، هغه هنداري لرونکي سوري ته ځیر شوم، په زړه کې مې شوق په څپو و، په ډېره سختۍ مې د خپلې خندا مخنیوی کولای شو. ځان ته مې ویل:

" -عکس مې اخیستل کېږي. زما عکس."

د سپینږیري عکاس غږ مې واورېد:

"چپې خوا ته وګوره... نه! ... لږ .... راسته خوا ته ...لږ نورهم... بس"!!

لـه ځان سره مې سوچ کاوه چې دا عکس به مې څنګه وي؟

عکاس بیا وویل:

" -پښې دې لږې سره نژدې کړه."

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوره مې د خپلې خندا مخنیوی نه شو کولای. شونډې مې سره لیرې شوې.

عکاس وویل:

"مه خانده."!

شونډې مې سره کښېکاږلې.

همداسې هنداره لرونکي سوري ته ځیر شوم او په ډېره سختۍ مې د خپلې خندا مخنیوی کاوه. د عکاس غږ مې واورېد.

" -ونه ښورې."!

د بُت په شان وچ ودرېدم، عکاس لـه کړکۍ څخه سترګې لیرې کړې او کړکۍ یې وتړله. هغه هنداره لرونکي سوری یې هم په هغې خولۍ پټ کړ او رانژدې شو، بیا یې سر تر پښو وکتلم او ویې ویل:

"ونه ښورې"!

د دې لپاره چې د خندا ښه مخنیوی وکړم، نو شونډې مې نورې هم سره کښېکاږلې، عکاس توره خولۍ لیرې کړه، هنداره لرونکی سوری راښکاره شو. وروسته یې بېرته بند کړ او ویې ویل:

" -خلاص شو."!

هوسا شوم، نوره خندا نه راتله، یوازې د خپل عکس لیدو ته په تلوسه کې وم.

عکس یې په یوه کاغذ کې راته وپېچه او رایې کړ. څو ګامه لیرې مې خلاص کړ، بېواکه مې وخندل. زه ومه. ټول شیان زما وو. چپنه، وړه لنګوټه، څپلۍ. ځان ته مې کتل چې ولاړ وم، لنګوټه مې یوڅه پورته شوې وه او وېښتان مې ښکارېدل. د سرتېرو (عسکرو) په شان نېغ ولاړ وم او شونډې مې داسې سره کښېکښلې وې چې ښکارېدل په زوره د خندا مخه نیسم.

په دې حال کې مې په سترګو کې حیرانتیا په څپو وه. چپنه مې پر بدن اوږده ښکارېده، د څپلیو څوکو مې هم خندوونکې بڼه درلوده، بیا هم ځان راته ښه ښکاره شو.

عکس مې جېب ته واچاوه او ومې ځغستل چې خپلې مور ته یې وښیم.

په کور کې مې خپلې مور ته وویل:

" -خپل عکس مې واخیست."

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې وویل:

" -راکړه چې وېې ګورم."

لاس مې جېب ته کړ، زړه مې په زوره ودرزېده، رنګ به مې هم الوتی و، ځکه عکس راڅخه کوم ځای لوېدلی و، مور مې وپوښتلم:

" -ولې؟"

پرته لـه دې چې څه ووایم کوټې ته مې منډه کړه، خپله لار مې ټو واړې ولټوله، خو عکس مې پیدا نه کړ. کور ته راغلم او په ژړا مې پیل وکړ. وروسته مې ماما هم راغی او وېې ویل:

" -هېڅ پروا نه لري ... زه به دې بل عکس واخلم".

مور مې سر راته ږمونځ کړ. نوي کالي یې راپه ځان کړل. ماما مې تر لاس ونیولم. چې عکس مې واخلي. خو سپینږیري عکاس ته ورنغی. ویې ویل:

" -برقي عکس اخلو."

زه یې یوې ښایستې عکسخانې ته بوتلم. زما عکس یې واخیست. ومې لیدل بیا هم زه ومه، خو دا عکس مې دومره خوښ نه شو، هېڅ خوند یې نه درلود. هغه عکس مې چې ورك کړی و، هر وخت په زړه کې و.

 

وروسته، کلونه تېر شول، ډېر عکسونه مې واخیستل، هېڅ یو هم راته د هغه لومړني عکس په شان په زړه پوری او ښکلی نه و.

کله چې د ښوونځې په وروستي ټولګي کې وم. یوه ورځ مې په یوه مجله کې پر یوه عکس سترګې ولګېدې، ټکان مې وخوړ. زما عکس و. هماغه عکس چې ورك کړی مې و:

یو کوچنی هلك و چې د سرتېرو په شان نېغ ولاړ و، چینه ورباندې اوږده وه، وړه لنګوټه یې یوڅه اوچته شوې وه او تور وېښتان یې ښکارېدل. د څپلیو څوکو یې خندوونکې بڼه درلوده. دې ماشوم خپلې شونډې سره کنېکښلې وې، چې د خپلې خندا مخنیوی وکړي. باړخوګان یې پړسېدلي ښکارېدل او په سترګو کې یې یوه لویه حیرانتیا په څېو ښکارېده، خپل تېر وختونه مې ولیدل.

خندا راغله. د عکس لـه پاسه یې لیکلي وو: "د اوونۍ (هفتې) په زړه پوری عکس."

او تر عکس لاندې دا توري لوستل کېدل:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



)يو خوشحاله کليوال هلك(

او ناڅاپه مې په ذهن کې راوګرځېدل: هغه سپينږيری عکاس به ژوندی وي، که مړ؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## جبران خلیل جبران

## د اروا حمام

زه او زما اروا د ځانونو د مینځلو لپاره د ستر رود پر لوري روان شوو. کله چې ساحل ته ورسېدو، نو د یوه پټ ځای په لټه کې شوو.

هماغسې روان وو چې یو سړی مو ولید. هغه پر لویه توره تیږه ناست و، یوه کڅوړه یې په لاس کې وه، چې موتې ــ موتې مالګه یې ترې کښله او رود ته یې اچوله. زما اروا راته وویل:

"دی هماغه بدبین دی چې له ژوند څخه یوازې یوه سایهویني. باید له دې ځایه لاړ شو، ځکه د هغه د سترګو په وړاندې لمبا نه شو کولای".

له هغه ځایه لاړو او روان شوو، یوه خلیج ته ورسېدو، هلته هم یو سړی ولاړ و او پر یوې سپینې ګارې یې تکیه کړې وه، په لاس کې یې د مرغلرو صندوق نیولی و. له صندوق څخه یې د قندو ټوټې راکښلې او رود ته یې اچولې.

زما اروا راته وویل: "دی هماغه خوشبین دی چې د نېکۍ او خیر لپاره ښه فالونه نیسي، راځه چې لاړ شو، ځکه ښه نه ده چې لوڅ مو دلته وویني."

روان شوو، یوه بل ساحل ته ورسېدو، هلته هم یو سړی و چې په ډېره مهربانۍ سره مړه ماهیان له ځمکې اخلي او رود ته یې اچوي. زما اروا راته وویل: "دی هماغه مینه ناك زړه سواند، سړی دی چې هڅه کوي د قبرونو مېشتو کسانو ته ژوند ور وګرځوي، باید ترې لیرې شو".

له هغه ځایه هم لیرې شوو، یوه بل ځای ته ورسېدو، هلته یو سړی ولاړ و چې سیوری یې پر اوبو ښکارېده، څپه به راتله او د سیوري انځور به یې ړنګاوه، هغه به بیا خپل سیوری غوړاوه او . . .

زما اروا راته وویل: "دی هماغه صوفي ډوله سړی دی چې له خپلو وهمونو څخه بوت جوړوي او بیا یې پرستش کوي، باید یوازې یې پرېږدو".

هغه مو هم تر شا پرېښود او رهي شوو، یوه داسې سړي ته ورسېدو چې له اوبو څخه به یې ځګونه او حبابونه را اخیستل او بیا به یې د عقیقو په جام کې اچول. زما اروا راته وویل:

"دی د ذهن او خیال هغه اسیر دی چې ځان ته د غښو له تار څخه جامې جوړوي. ښه نه ده چې لوڅ مو ووینې".

څو ګامه وړاندې لاړو، یو غږ مو واورېد چې ویل یې :

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"دا هماغه رود دی، خپله دی، هماغه ستر او پراخ رود "!

زه او زما اروا په ډېره بېړه د غرږ پر لوري روان شوو. هلته مو يو سړی وليد چې رود ته يې شا کړې وه او ناست و، د حلزونونو دوه صدفونه يې په غوږونو کې، لکه دوې ځانګې او د خپل غږ ازانګه يې اورېده. زما اروا راته وويل:

"راځه له دې ځايه ليرې شو، دی هماغه لامذهبه زمانه ده، دوی له هغو ملکيتو سترګې اړوي چې پوهېدل يې ورته ګران وي، دوی حقيرو او بې ګټو جزياتو ته مخ اړوي".

هغه مو هم تر شا پرېښود، يوه بل ځای ته ورسېدو، يو سړی مو وليد چې په لويو تيږو کې ګرځېده، سر يې ټيټ کړی و او په شګو کې يې سر پټ نيولی و. خپلي اروا ته مې وويل:

"راشه همدلته ځانونه ومينځو، ځکه دغه سړی به مو نه شي ليدلای".

اروا مې سر وښوراوه او ويې ويل:

"نه! هېڅکله نه! دغه کس چې ستا په وړاندې دی، د خدای له تر ټولو بدو مخلوقاتو څخه دی، هغه يو خبيث ګناهکار دی، چې د ژوند له ناخوالو ځان پټوي، نو ځکه ژوند هم خپلې نېکمرغۍ او خوښۍ ترې سپموي".

پر دې مهال مې د اروا په څېره کې خواشيني څرګنده شوه، په ترخه غږ يې وويل :

"راځه له دغو سواحلو ليرې شو، د ځان مينځلو لپاره پټ او امن ځای نه شو موندلای. زه نه غواړم چې ددغو سواحلو باد راسره لوبه وکړي او هوا يې زما په پاکه مينه کې وردننه شي او رڼا يې زما پر سپېڅلي بدن خپره شي".

تر هغه وروسته ما او زما اروا هغه ستر رود پرېښود او د يوه ستر رود په لټه روان شوو.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ماري لوييزه کاشنتيس

## چاغه ماشومه

د جنورۍ مياشتې وروستۍ ورځې وې، چې يوه چاغه ماشومه راغله. د ژمي له پيله مې ماشومانو ته دکتاب ورکولو دود پيل کړی و. دوی به د اوونۍ پر يوه ټاکلې ورځ کتابونه راوړل او وړل به يې.

که څه هم زياتره ماشومان مې پېژندل، خو کله کله به داسې هم پېښېدل، چې د نورو کوڅو ماشومان هم په کتاب پسې راته راشي.

زياترو ماشومانو به په کور کې د مطالعې لپاره زيات وخت درلود. خو ځينې به داسې وو، چې هملته به کښېناستل او په لوستلو به يې پيل کاوه.

زه به هم د مېز تر شا کښېناستمه او په خپل کار به لګيا شومه، ماشومان به د کتابونو الماري ته نژدې په کتاب لوستلو بوخت شول. دوی به ما ته مزاحمت نه کاوه، زما لپاره به ډېر په زړه پورې وو.

يوه جمعه، يا به شنبه وه، چې يوه چاغه ماشومه راغله، البته دا داسې ورځ وه، چې ما چا ته کتاب نه ورکاوه.

غوښتل مې له کوره ووځم، خوتر دې وړاندې مې تکل وکړ، هغه خواړه، چې تيار کړي مې دي، د خوړلو لپاره خپلې کوټې ته راوړم. څو شېبې وړاندې يو کس راسره و، کله چې لاړ، نو د سرای دروازه يې خلاصه پرېښې وه. ما د خوړو پتنوس پر مېز ايښی و او غوښتل مې چې يو بل شی هم له پخلنځي څخه راوړم، چې دغه چاغه ماشومه مې مخې ته راشنه شوه. څه کم دوولس کلنه نجلۍ به وه، زوړ بالاپوښ يې په ځان او تور بوټونه يې په پښو وو. په لاس کې يې د ښوېيندوکي (يخمالك) ځانګړي بوټونه نيولي وو، څېره يې راته اشنا غونډې وه، دا چې له کوم غړ پرته کوټې ته راننوتلې وه، ټکان مې وخوړ. له تاسو څه پټه لړه ووېرېدمه هم.

په حيرانۍ سره مې وپوښتله:

"ما پېژنې؟"

چاغې ماشومې چې پر خپله غټه خېټه يې لاس ايښی و، ولاړه وه، هېڅ يې هم ونه ويل. په خپلو روښانه او ځلېدونکو سترګو يې راوکتل.

ومې پوښتله:

"کتاب غواړې؟"

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ځل يې هم ځواب رانه کړ، خو زه ډېره حيرانه هم نه شوم. پوهېدمه چې زياتره ماشومان له سړي څخه شرمېږي. ځکه يې بايد مرسته وشي. له الماری څخه مې څو کتابونه راوکښل او د هغې مخې ته مې کښېښوول. وروسته مې د ثبتولو او لېسټ کتابچه پرانيستله او ومې ويل:

"نوم دې څه دی؟"

ويې ويل:

"ما ته پنډوګۍ وايي."

ومې پوښتله:

"زه دې هم بايد په همدې نوم وبولم؟."

ويې ويل:

"ما ته کوم فرق نه لري."

زما په خندا يې رې ونه واهه. خو زه کولای شم، په ياد کړم، چې په دې شېبه کې يې څېره زياته دردناکه شوه او وځورېده. ما هم ورته زياته پاملرنه ونه کړه او خپلو پوښتنو ته مې دوام ورکړ:

"په کومه مياشت کې پيدا شوې يې؟"

هغې په ارامۍ سره وويل:

"په سلواغه (دلو) مياشت کې."

په دې ځواب يې خوشحاله شوم. همداسې مې وليکل. بيا مې د کتابونو خوا ته مخ واړاوه او ومې پوښتله:

"کوم ځانګړی کتاب غواړې؟"

خو په دې وخت کې مې وليدل چې نجلۍ هېڅ کتابونو متوجه نه ده او سيده د چايو او خوړو پتنوس ته ګوري.

بيا مې ترې وپوښتل:

"لکه چې غواړې ډوډۍ وخورې؟"

نجلۍ د سر په اشاره هو وکړه. ما حس کړل چې په دې اشاره کې په درد او رنځ لړلې حيرانتيا پټه ده. څرنګه چې تر دې کچه يې په مقصد پوه شوې ومه، خواشينې وه. د ډوډۍ ټوټې يې يوه په بلې پسې تېرولې. په ډېره اشتها يې ډوډۍ خوړله. وروسته مې ځان په دې ملامت کړ، چې ولې يې په مقصد پوهه شوې ومه .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر ډوډۍ خوړلو وروسته پر خپل ځای کښېناستله، په بې پروا سترګو یې شا و خوا ته کتل. په دې کې داسې حالت لیدل کېده، چې په ما کې یې کرکه او غوسه راپاروله. هو؛ له دغه ماشوم ښځه مې بد راغلي وو.

ښایسته او پنډ صورت، د خبرو ډول، لنډه دا چې هرڅه یې راته کرکجن وو. که څه هم تکل مې کړی و، چې د هغې له کبله به له چکروهلو ډډه کوم، خو بیا مې هم دوستانه چلند ورسره ونه کړ. چلند مې سوړ او ظالمانه و.

د خپل مېز تر شا کښېناستلم او په کار لګیا شوم. که څه هم پوهېدمه چې له مطالعې سره مینه نه لري. په بې پروایۍ سره مې ورته وویل:

"که زړه دې کېږي، کولای شې کتاب ولولې."

ایا دې ساړه او ظالمانه چلند ته دوستانه ویلای شو؟ غوښتل مې چې څه ولیکم. خو ونه توانېدم، ځکه داسې مې احساسول، چې کوم څیز مې ځوروي. داسې وم لکه څوك چې غواړي د کوم مطلب په باب سوچ وکړي. خو ونه توانېږي، د ناارامۍ دغه احساس یې تر هغه وخته نه لیرې کېږي، چې خپلې پوښتنې ته سم ځواب ونه مومي. زه هم په دغسې یوه حالت کې ومه. نور مې زغم له لاسه ورکړ او نجلۍ ته مې مخ واړاوه، ورسره په خبرو لګیا شوم.

"بله خور یا ورور لرې؟"

"_هو! لرم یې"

"_په مینه ښوونځي ته ځې؟"

"_هو! په ډېره مینه."

"_له کوم کار سره زیاته مینه لرې؟"

"_څه مو وویل؟"

په وارخطایۍ سره مې وویل:

"مقصد مې دا و، چې کوم کسب دې زیات خوښېږي؟"

"_نه پوهېږم."

"_لکه چې الماني ژبه دې زیاته خوښېږي؟"

"_نه پوهېږمه."

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لاس کې مې پنسل و، ومې څرخاوه، په ما کې یو ځوروونکی احساس راوپارېده، چې هېڅکله هم د دغه ماشوم له راتګ سره یې اړیکي نه لرل.

په لړزانده غږ مې ترې وپوښتل:

"خامخا به دوستان لري."

" ــاوه، هو"!

" ــضرور به یو، تر نورو ډېر دربانديې ګران وي؟"

" ــنه پوهېږم"

په خپل بالاپوښ کې یوه چینجي ته ورته وه، د یوه چینجي غوندې یې ډوډۍ خوړله، اوس یې هم د یوه چینجي غوندې بویونه کښل.

په داسې حال کې چې ټول بدن مې د غچ اخیستنې له هوس څخه ډك و، له ځان سره مې سوچ وکړ، چې نور به هېڅ هم نه ورکوم.

خو څو شېبې وروسته بیا ووتم او څه نور خواړه مې ورته راوړل. ماشومه په پیل کې ورته حیرانه شوه. خو وروسته یې په خوړلو پیل وکړ.

بېخي د چینجي غوندې وه. په ارامۍ سره یې ډوډۍ خوړله. ما په دښمنانه نظر ورته کتل. ورو- ورو د دې ماشومې کارونو ځورولم، کله چې یې د خپل بالاپوښ تنې خلاصولې، له ځان سره مې سوچ وکړ: څومره مسخره سپین کالي یې په ځان کړي، یخن یې څومره خندوونکی جوړ کړی دی.

بیا د مېز شا ته کښېناستم او په کار بوخته شوم. خو د ماشوم د خولې اواز، چې د تورو ځنګلي باښو اواز ته ورته و، د انساني غمونو او خواشینیو یادونه راژوندي کړل او طبیعت یې راته خټه کړ.

له ځان سره مې فکر وکړ: له ما نه څه غواړې؟ یوازې مې پرېږده!

داسې مې احساسول چې غواړم ماشومه په خپلو لاسونو له خونې وباسم. خو وروسته مې د دې پرځای چې دباندې یې وشړم، بیا خبرې ورسره پیل کړې:

دا ځل مې هم د تېر په څېر، ظالمانه پیل وکړ:

"غواړې یخمالك ته لاړه شې؟"

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"_هو."!

په داسې حال کې چې د ښوېښندوکي (يخمالك) بوټونوته، چې په لاس کې يې وو اشاره وکړه، ومې پوښتل:

"ته کولای شې پر کنګل ښه لوبه وکړې؟"

"_خور مې تر ما ښه لوبېږي"

يو وار بيا يې د غم شپول پر څېره راتاوه شوه. پوښتنه مې وکړه:

"خور دې څه ډول ده، ستا غوندې؟"

ماشومې ځواب راکړ:

"اوه، نه! هغه ډېره ډنګره ده، وېښته يې تك تور او کوت- کوت دي. په دوبي کې چې موږ په کلي کې يو، خور مې د تالندې او برېښنا پر وخت له ځايه اوچتېږي او د کور لوړ منزل ته خېژي، هلته کښېني او سندرې وايي."

"_ته څه کوې؟"

"_زه په خپل کټ کې پاتېږم، ډېره وېرېږم."

"_خور دې اصلاً نه وېرېږي، داسې نه ده؟"

"_هو! هغه هېڅ وخت نه وېرېږي، هغه له لوړه ځايه اوبو ته ځان اچوي، تل په سر خېز وهي، بيا په لمبا له هغه ځايه ليرې کېږي"....

په تلوسې سره مې وپوښتل:

"خور دې کومه سندره وايي؟"

هغې په خواشينې څېره وويل:

"هرڅه چې يې زړه وي، شعر هم وايي."

"_او ته؟"

"_زه هېڅ کار نه کوم."

له ځايه اوچته شوه او زياته يې کړه:

"نوره به لاړه شم."

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاس مې ور اوږد کړ. د هغې چاغې ګوتې مې کښېکاږلې. زه هېڅ نه پوهېدمه چې په هغه شېبه کې مې څه احساس درلود.

ورته ومې ویل:

"هر وخت چې بېکاره وې، بیا راشه"

په ساړه نظر یې راوکتل او له خونې څخه ووته.

ما باید په دې وخت کې د ارامۍ احساس کړی وای. خو کله چې مې د وره د ترل کېدو غږ واورېد، په بیړه مې منډه کړه، خپل بالاپوښ مې په ځان کړ او له زینو څخه کښته شوم. هغه وخت له کوره ووتم، چې نجلۍ زموږ له سړك څخه بل واټ ته واوښته .

له ځان سره مې سوچ وکړ، چې زه باید د دې چینجي یخمالك وګورم. د دې لپاره چې نجلۍ راڅخه ورکه نه شي، نو ګامونه مې تېز کړل او ورپسې وم .

هغه وخت چې دغه نجلۍ ما ته راغله، غرمه وه، خو اوس مازیګر راتلونکی و. سره له دې چې په دې ښار کې مې د ماشومتوب یو دوران تېر کړی و. خو بیا یې هم په واټونو او څلور لارو کې سمه بلده نه ومه. ډېر به راته نااشنا ښکارېدل. ناڅاپه د هوا د حرارت بدلون ته متوجه شوم. مخکې هوا ډېره سړه وه، خو اوس داسې توده شوه چې د بامونو واوره ویلېدله او د اوبو ځاځکي ترې روان وو .

له ښاره ووتو، د ورو باغ لرونکو کورونو له مخې تېر شوو، ناڅاپه نجلۍ راڅخه ورکه شوه، کله چې وړاندې لاړمه، نو یوه لوی ډګر ته ورسېدم، چې یخمالکونه په کې جوړ کړل شوي وو.

زما یاد شول چې دلته د اوبو یو کوچنی ډنډ و، چې شا و خوا یې یو ځنګل و. د ماشومانو د لوبې ډګر په لویو ځلاندو څراغونو روښانه و. د بېلابېلو سندرو او د ماشومانو د شورماشور اوازونه تر غوږ کېدل.

دغې صحنې دومره وپارولم، چې هغه نجلۍ مې هېره شوه. تر څو دقیقو وروسته مې ولیده، چې په یوه ګوښې ځای کې ناسته وه. یوه پښه یې پر بله اړولې او هڅه یې کوله، چې په یوه لاس د یخمالك د بوټ بند وتړي او په بل لاس یې د هغه پېچ ټینګاوه.

له ځایه اوچته شوه او هڅه یې وکړه، چې پر کنګل لوبه وکړي، څو ځلې ولوېده، خو بېرته به اوچته شوه، په دې وخت کې یې د یوه شکوڼ بڼه خپله کړه .

وربېځو ته ورته غبار، فضا نیولې وه. یوڅه تیاره ښکارېده. په بېتابۍ سره مې چغې کړې:

"ژر دې لوبه پایته ورسوه"!

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې نجلۍ د لوبې له ډګر څخه د راوتلو رښتینې هڅه پیل کړه. خو دا هڅه یې زما د غږ لپاره نه وه، بلکې بل چا ورته په پرله پسې ډول نارې وهلې:

"پنډوګۍ! راشه."

له ځان سره مې وویل: کېدی شي دا یې مشره خور وي. یانې هغه کس چې ښه نځا کولای شي. همدغه راز د تالندې او برېښنا په وخت کې سندرې وایي.

په دې وخت کې مې احساس کړل، چې زه یوازې د هغې لپاره راغلې یمه. وروسته هغه خطر ته ځیر شومه، چې ماشومانو ته متوجه وي.

د سیند اّه د بخار په ډول اوچتېده. داسې ښکارېدل چې کنګل ماتېدو ته نژدې کېږي. ما د اه دغه اواز د اوبو له ژورو اورېده، خو ماشومان ترې بېخبره وو .

نه! ماشومانو به نه اورېده، ځکه که یې اورېدای، نو دغې چاغې نجلۍ به لوبه نه کولای او خور به یې ورته نه خنلای. نه به نڅېدلای او لاس به یې نه ورته ښوراوه. نجلۍ هغې برخې ته نژدې شوه، چې د کنګل رنګ یو څه تت و او داسې ښکارېدل چې ډېر نازک ځای وي. په سر کې یې ځان تر شا کړ، خو ترې تېره شوه، یوازې خور یې هغه خطر ته متوجه شوه. په لوبو- لوبو یوې لوړې برخې ته ووته.

زه هم کرار- کرار هغې سیمې ته نژدې شوم، چې کولای مې شول، ټول لوبېدونکي ماشومان په اسانۍ سره وګورم.

د کنګل پرمخ رامنځته شوې درزونه لیدل کېدل، چې د اوبو څګونه ترې راوتل. ما ښه ولیدل چې د چاغې نجلۍ تر شا کنګل ماشت شو او دا هغه ځای و، چې مخکې یې خور پرې نڅېده. باید ووایم چې دغه درز هغې ته کوم ځاني خطر نه درلود.

خو هغه څه چې پېښ شول دا وو، چې چاغه نجلۍ ناڅاپه یو متر په اوبو کې ننوته او شا و خوا ته یې د کنګلونو ټوټې راټولې شوې، که څو ګامه نور هم وړاندې تللای، نو کولای یې شول، ځان وچې ته ورسوي او زه یې هم مرسته وکړم.

تر څو، ناڅاپي حرکتونو وروسته یې شا و خوا ته اوبه زیاتې شوې او تر لاسونو لاندې کنګلونه یې په کړس- کړس سره ماتېدل.

فکر مې وکړ چې ډوبه نه شي، خو دغې پېښې په ما کې هېڅ ډول رحم راونه پاراوه، هغې نجلۍ ناڅاپه خپل سر لوړ ونیو .

شپه رارسېدلې وه، سپوږمۍ د وریځو ترشا ښکارېده، ښه مې ولیدل چې په څېره کې یې ډېر بدلون رامنځته شوی دی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د څېرې حالت يې، ژوندي پاتې کېدو ته د هيلې او غوښتنې څرګندوی و. لکه د مرګ په وړاندې چې ولاړه وي، هڅه يې کوله خپله ټوله هستي او ژوند په غېږ کې ټينګ ونيسي.

هو! زه باور لرم چې هغې له مرګ څخه کومه فاصله نه درلوده، نو ځکه راتيټه او د هغې سپينې څېرې ته ځيره شوم، چې زما پښو ته په اوبو کې ډوبه شوې وه. کټ مګټ داسې وه، لکه زه چې په تور رنګه سېلاو کې خپله څېره وينم.

نجلۍ، چې هرڅنګه وو، ځان يې تر وچې پورې ورساوه. خپل لاسونه يې اوږده کړل او په خپل ټول قوت سره يې هڅه وکړه د وچې او اوبو ترمنځ سيمه کې په ټك وهل شويو لرګينو مېخونو لاسونه ټينګ کړي. وزن يې زيات و، ګوتې يې ټيپې شوې وې. بيا په اوبو کې ولوېده، يوځل بيا يې د ځان د خلاصون لپاره هڅه پيل کړه. دا له مرګ څخه د ژغورنې لپاره يوه اوږده او وېروونکې جګړه وه.

اوس مې احساسول چې غواړم له دغې چاغې ماشومې سره مرسته وکړم. خو په دې وخت کې پوه شوم چې زما مرستې ته اړتيا نه لري. ما ته څرګنده شوې وه، چې...

دا چې هغه شپه څنګه کور ته راغلمه، په ياد مې نه دي. دومره مې ياد دي، چې په زينو کې مې يوه ګاونډې ته وويل:

"د اوبو لږ ساحل او د هغه شا و خوا چمن او تور ځنګلونه پاتې دي."

خو هغه مې په ځواب کې ويلي وو :

"هېڅ هم نه شته."

کله چې کور ته ورسېدم. پر مېز مې کاغذونه پاشل شوي وو. په هغو کې مې خپل يو پخوانی عکس پيدا کړ، دغه عکس يوه چاغه نجلۍ ښووله، چې سپين وړين کالي يې په ځان او روښانه سترګې يې وې.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جبران خلیل جبران

## ځانـــــپــېژندنه

د بیروت په یوه باراني شپه کې، سلیم افندي د مېز تر شا کښېناست، مخامخ یې د کتابونو المارۍ وه. د هغه پر شا وخوا لرغوني کتابونه او سره پاشلې پاڼې لیدل کېدې.

کله کله به یې سر خوځاوه او تر خولې به یې د سګرېټو لوګي هوا ته خوشې کول. سلیم افندي دا مهال د یوې فلسفي رسالې په لوستلو بوخت و. دغه رساله د ځانپېژندنې په باره کې وه. چې سقراط د خپل شاګرد (اپلاتون) لپاره لیکلې وه.

سلیم افندي لکه څنګه چې رسالې ته ځیر و، یوه پاڼه به یې واړوله او په خپل ذهن کې به یې د فلسفې د پوهانو ویناوې څېړلې او شنلې.

کله چې ښه په موضوع کې ژور شو، ناڅاپه له ځایه اوچت شو. لاسونه یې سره وغزول او زیاته یې کړه:

"هو، هو! ځانپېژندنه د ټولو پېژندنو مور ده. خو: زه، زه باید ځان وپېژنم. ښه په ژوره او دقیقه توګه. زه باید د اروا له اسرارو پرده اوچته کړم او ځان له پټو رازونو خبر کړم. زه باید ځان ته خپل مادي او مانیز (معنوي) وجود وروپېژنم او دغه دوه پټ اسراره راښرګند کړم"...

دغه توري یې په حماسي لهجه تر خولې راووتل او په سترګو کې یې هم "پېژندنې ته د مینې" اور په نڅا شو.

له کتابتون څخه ووت او تر څنګ کوټې ته ننوت، په دې خونه کې یوه لویه هنداره ځړېده. د بوت په شان هندرې ته مخامخ ودرېد او په هنداره کې یې خپل انځور ته په غور سره وکتل، د خپل سر بڼې، د بارخوګانو لیکو، د قد کوږوالي، قد او قوارې ته ښه ځیر شو او په چورتونو کې لاړ.

نیم ساعت دغسې پاتې و. ته وا ازلي اندېښنې کوم نابلده فکرونه وربانديې نازل کړي، چې دی د هغوی په واسطه د خپلې اروا پټو اړخونو او د ځان پېژندنې ته ورسېږي.

وروسته یې ورو شونډې سره لیرې شوې او ځان ته یې وویل:

"زما قد لنډ دی، د ناپلیون او ویکټور هوګو قدونه هم لنډ وو .

زما د سر مخکېنۍ برخه وېښتان نه لري، کټ مټ د شکسپیر د سر غونډې.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پزه مې بدرنګه ده او لږه کږه هم ښکاري، د ولټر او جورج واشنګټن پزې هم همدغسې وې.

یوه سترګه مې معیوبه ده، د پولس رسول او نېچه سترګې هم معیوبه وې، شونډې مې پنډې دي، بېخي د سیسرون او څوارلسم لوبي په شان. د غاړې په پنډوالي کې هم هانیبال او مرقس انتیونیوس ته ورته یم .

خو غوږونه مې مستطیلي بڼه لري او غټ دي، عیناً د برونر او سوانتېس د غوږونو په څېر. بارخوګان مې سره راوتلي ښکاري او شونډې مې سره ننوتلي، د ولپ لافیات او ابراهام لیکنلن په شان.

اوږې مې لږې د شا خوا ته کږې دي، د ګوله اسمیټ او ویلیام بټ د اوږو په شان.

یوه اوږه مې جګه، بله مې ټیټه ښکاري، د ادیب اسحاق د اوږو په شان .

د لاسونو پټوکي مې کلك او د لاسونو ګوتې مې لنډې دي، د ویلیام بلیك او د انتوني د ګوتو په شان.

ګردسره ډنګر یم او دا اکثره د هغو پوهانو ځانګړنه ده، چې بدن یې تل د اروا له کبله په رنځ او کړاو کې وي.

تر ټولو حیرانوونکې خو لا دا چې د لیکنې او مطالعې پر وخت باید خامخا د بالزاك په شان زما تر څنګ د قهوې یو ګېلاس پروت وي. همدغه راز کټ مټ د تولستوی او ماکسیم ګورکي په شان مینه لرم چې له کروندګرو او کلیوالو خلکو سره ناسته ولاړه ولرم.

دا درې ورځې کېږي، چې مخ او لاسونه مې نه دي مینځلي، په دې توګه بتهون او والت ویتمن ته ورته یم. دغه راز د مېرمنو د خاوندانو د نشتوالي پروخت د هغوی له کیسو څخه د بوکاچیو او ربیالي په څېر خوندونه اخلم .

لکه څنګه چې ابي نواس او الفرډ دوموسه له شرابو سره مینه لرله، زه هم ترې په کمه نه یم. همدغه راز د خوندورو خوړو په خوړلو کې هم بیا د تاریخ له خېټورو په کمه نه یم.“

سلیم افندي لږ غلی شو. وروسته یې په داسې حال کې چې خپل تندی یې ګراوه، وویل:

"دا هم زه او دا هم زما حقیقت! زه د تاریخ د نامتو کسانو د صفاتو یوه ټولګه یم. څوك چې دغه ځانګړنې ولري، باید چې په دې نړۍ کې ستر کارونه وکړي. د ځان او نفس پېژندنه د ټولو پوهنو دروازه ده او ما نن شپه خپل ځان وپېژانده. له دې کبله تر دې شپې وروسته به یوه ستر کار لاس پورې کوم. هغه کار چې هستۍ د هغه لپاره په ما کې دغه بېلابېل صفات ځای کړي دي.

زه نه پوهېږم چې هغه ستر کار به څه وي؟ خو باور لرم، که هر څوك زما د ظاهر او باطن صفات ولري، هغه به د روزګار له نادرو او نوابغو کسانو څخه وي... ما ځان وپېژانده"...

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر دې مهال سلیم افندي چې په څېره کې یې د خوښۍ نخښې ځرګندېدې، په قدم وهلو پیل وکړ. په دې وخت کې یې له ځان سره دغه بیت زمزمه کړ:

باید چې په دې دومره بې نظیره صفاتو

داسې کار ترسره کړم چې چا لا نه وي کړی

خو یو ساعت وروسته زموږ د داستان اتل په نامنظمو جامو کې پر کټ باندې په خوب کې ډوب شو او خراری یې هوا ته جګېده. داسې خراری چې د انسان د غږ پرځای د ژرندې د پل غږ ته ورته و.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لوییزه رین زر

## یو بوډا مړي

خاله اميلي د خپل خاوند د مړينې له کبله يو کال وروسته مړه شوه. د مرګ علت يې څرګند نه شو، ډاکټر د ښخونې په جوازپاڼه کې د مړينې علت (د زوړتوب کمزوري) وښووله. په هماغه حال کې يې اوږې پورته واچولې، څکه خاله اميلي شپېته کلنۍ ته هم نه وه ورسېدلې.

خو له دې پرته يې څه ليکلای شوای؟

ډاکټر هغه نه پېژنده، خو ما پېژندله. له دې کبله يې د مړينې په علت هم پوهېږم. ګوډفريد اکا تر اميلي لس کاله مشر و. په خپل ټول عمر کې نه و ناروغ شوی. کله چې خاله اميلي مورږ ته په يوه پوستکارډ کې خبر راکړ، چې: ګوډفريد اکا غواړي له تاسو سره وګوي، نو وړاندې تر دې چې غلي پاتې شو، حيران شوو. د فبرورۍ په پای کې هوا سړه وه. مورږ خپل لومړني ماشوم ته انتظار ايست. خاوند به مې ويل:

"له دې وضعې سره سفر نه شي کولای. پر دې سربېره، ته خاله اميلي ښه پېژنې، چې ګوډفريد والګي وهلی وي او خاله اميلي يې مرسته نه شي کولای."

خو له اندېښنې ځخه مې احساس کړل، چې:

"له تاسو سره وګوري" جمله بايد همداسې وي. دی به يو وار له مورږ سره وګوري. بس! په دې توګه روان شوو.

زما خاوند پتر وويل:

"پوهېږې؟ که ګوډفريد اکا تر خاله اميلي زيات عمر درلودای، ښه به و. که دا موضوع سرچپه پېښه شي، بيا به هم ښه وي. دا لويه بې انصافي ده."

ګوډفريد اکا چې له اميلي سره د واده تړون کاوه، نو اميلي ډېره ښايسته وه. ګوډفريد ډېره مينه ورسره کوله. بده يې اموخته کړې وه. همدغه ګوډفريد و، چې سهار به له خوبه پاځېد، نو اور به يې بل کړ، اميلي ته به يې چای تيارولې او وروړلې به يې.

دا ګوډفريد و، چې غوښه او سابه به يې رانيول، د کور له نوکر سره به يې لانجه کوله. مېخونه يې ټک وهل، تنۍ به يې ګنډلې. لنډه دا چې ټول کارونه به يې کول. په لومړي سر کې دغه کار د اميلي لپاره په زړه پورې و. خو وروسته ورسره روږدې شوه. اخر يې حوصله پايته ورسېده.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم زوی یې نه درلود. ځکه چې امیلي نه غوښت او ګوډفرید یې هم خبره منله. په دې توګه زیات کلونه تېر شول. دوی به د دوو پردیو په شان سره ژوند کاوه. امیلي به د ورځې په کټ کې غزېدلې وه، مطالعه به یې کوله او د هرې ورځې په تېرېدو سره چاغېده. ګوډفرید هم په شراب څښلو پیل وکړ او چاغ شو. هېڅ وخت یې سره خبرې اترې نه کولې، لکه څنګه چې ښکارېدل، په دې برخه کې یې د یو بل په وړاندې بې پروایي ښووله. یو ځل مې له ګوډفرید څخه وپوښتل:

"ولې له یو بله نه بېلېږئ؟."

په حیرانۍ سره یې راوکتل او ویې ویل:

"جلا شو؟ په څه دلیل؟"

په وارخطایۍ سره مې وویل:

"کوم مقصد مې نه درلود، ګومان مې وکړ، ته له امیلي سره خوښ نه یې."

په سړه سینه یې ځواب راکړ:

"ته فکر کوې همداسې به وي؟ ما په دې اړه هېڅ فکر نه دی کړی."

تر لږې چوپتیا وروسته یې وویل:

"کار هغه چا وکړ، چې پیل کړی یې و."

ما چغې کړې:

"اوه خدایه! انسان نه شي کولای د خپلې ناسمې ټاکنې له کبله شل کاله په عذاب کې ژوند وکړي."

په مینه یې پر اوږه وټپولم او ویې ویل:

"ولې؟ انسان کولای شي د ژوند تر پایه، د ژوند تر پایه."

دغه چاغ او توربخونه سړی راباندې ګران و. زما د ترحم او درناوي احساس یې پاراوه. د ده په وړاندې مې د درناوي احساس زیات و. عجیبه خو دا چې ګوډفرید اکا به د شپې نشه او مست کور ته راته. د ورځې له خوا به یې خلکو ته پټاټې سپینولې، ناولي لوښي به یې مینځل، بیا به یې هم د خاله امیلي توند خوی زغامه، چې په ظاهره احمقانه ښکارېده .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې مې د لومړي ځل لپاره "ژور" توری واورېد، یوه شېبه د ګوډفرید اکا په سوچ کې ولوېدم. اوس تر یوه عمر وروسته، دوی دواړه زاړه، غوږونه یې درانه او سترګې یې کمزورې شوې وې. ژوند یې هم د باراني ورځو غونې غمجنوونکی او کهال و.

د ګوډفرید لپاره هم دا ستونزمنه وه، له خپلې مېرمنې سره چې د یوه درانه بار غوندې یې پرې سنګیني کوله، په هوسایۍ سره ژوند وکړي، دا کوم عدالت دی، چې خاله امیلي د یوې غوټې فاتحې او بریمنې مېرمنې په توګه انځور کړو؟

کله چې خاله امیلي ور پرانیست، لومړی نظر یې پر ما پرېوت، خپل سر یې په لاسونو وواهه او چغې یې کړې:

"اخ! مهربانه خدایه! دا هم ورزیاته شوه."

پتر هغه لږ لیرې کړه او ویې پوښته:

"ګوډفرید اکا څنګه دی؟"

امیلي په داسې حال کې چې ما ته ځیر وه، ویې ویل:

"حال یې خراب دی، مري"!

دا جمله یې دومره عادي وویله، تا به ویل د خوږو د تیارولو په اړه خبرې کوي. وروسته یې ورزیاته کړه:

"سینه بغل دی"

بیا یې د خوب د کوټې ور پرانیست او ویې ویل:

"خپله هلته دی، تر دې زیات به یې تاب ونه لري."

په کرکه یې کرار وویل:

"غلی شه."!

امیلي په حیرانۍ سره راوکتل او ویې ویل:

"ولې؟ هغه بېسده دی. اوس یې نه اوري."

د ګوډفرید اکا لاس مې ټینګ ونیو. په پرانیستلو سترګو یې چت ته کتل. ګومان مې وکړ، چې پېژندلې یې یم. که دغه پېژندنه د یوې شېبې لپاره هم وي.

ورو مې له امیلي څخه وپوښتل:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"نورې خبرې نه کوې؟"

خو ما هېر کړي وو، چې د خاله امیلي غوږونه هم درانه دي او په اسانۍ سره نه اوري. په داسې حال کې چې خپلو غوږونو ته يې لاس وروړی و، ویې پوښتل:

"څه دې وویل؟"

ومې ویل:

"د باندې به ووځو"

ویې ویل:

"ولې دباندې؟ ما تر اوسه بخاري نه ده لګولې. ځان ته به قهوه هم تیاروم."

وروسته يې په ناکرارۍ سره زیاته کړه:

"په کور کې د خوړلو لپاره څه نه لرم، پېرودل، خو د ګوډفرید پر غاړه وو. زه په دې برخه کې هېڅ تجربه نه لرم."

پتر د ځینو توکو د رانیونې لپاره ووت، ما د پېروي ډبلی د کارونې لپاره پرانیست. خاله امیلي د قهوې د تیارولو په وخت کې په زوره خبرې کولې:

"نن نهمه ورځ ده، هغه ورځ چې هرڅه څرګندېږي، ډاکټر خو وایي، چې صحت يې ښه کېږي. خو هغه یو احمق سړی دی. هر څوك لیدای شي او ویني چې ګوډفرید د مقاومت ځواك نه لري. په ژوند کې يې زیات شراب څښلي، اوس نوهرڅه تمام شوي دي."

امیلي قهوه واپشوله.

ومې پوښتله:

"زما په اړه يې کومه پوښتنه وکړه؟"

"_هو! هماغه شپه چې تبې نیولی و."

په غوسه شوم او ومې ویل:

"ولې دې هماغه وخت راته ونه لیکل؟"

په حیرانۍ سره يې اوږې پورته واچولې:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"څه مرسته به دې ورسره کولای؟"

" ــوه خدايه! ښايي زما راتګ ورته تسلی ورکولای."

پرته له دې چې خواشينې وي، ويې ويل:

"څه فکر کوې، چې مرسته به دې اغګزناکه وای؟ زه خو يې تر څنګ وم."

فکر ته مې يوه خبره راغله، خو ومې نه کړه. د کوچو کوچنی ډبلی مې راواخيست او د ګوډفريد څنګ ته ورغلمه .

د پخوا په شان ويده و. لږ کوچې مي د هغه پر وچو او چاودلو شونډو چې د نيم سوي لرګي په شان وې، کښېښوول.

د هغه کوچي زيات خوښېدل، ان د شرابو په شان. خو اوس يې د خوړلو توان نه درلود. کوچي يې له شونډو څخه پر ناخرېيل شوې زنې راتوی شول. کله چې خاله اميلي له چاينکې سره راننوتله، چغې يې کړې:

"څه کوې؟ حيف چې دغه کوچي هسې ضايع کوې، ته خو وينې چې دی څه نه شي خوړلای."

خو ما د هغه پر شونډو د کوچو له موړلو لاس وانه خيست. د ستوني حرکاتو يې ښوول، چې لږ کوچي يې سوي ستوني ته ننوتلي دي .

پتر له ډوډۍ او کوچو سره راغی او له خاله اميلي سره يې يوځای په خوړلو پيل وکړ. اميلي په داسې حال کې چې خپله ګوله يې ژووله، وويل:

"دوې ورځې کېږي چې څه مې نه دي خوړلي، ګوډفريد به هرځل د اتو ورځو اړتيا وړ خواړه کور ته راوړل. دا لسمه ورځ ده، دوې ورځې مخکې هغه خوراکي توکي خلاص شوي دي."

پتر پوښتنه وکړه:

"دی ولې ناروغ شوی؟."

اميلي اوږې پورته واچولې:

"کېدی شوای دغه ناروغي ورپېښه نه شي. خو دی زيات بې پروا دی. والګي وهلی و، ما ورته وويل: چې په کور کې پاتې شي. خو ده ټينګار کاوه، چې زه بايد خريد وکړم، خو کله چې راستون شو، تبې نيولی و."

پتر وويل:

"لا حول والله! سره له دې چې سړو وهلی و، ولې دې پرېښود چې له کوره ووځي؟ نه شوای کېدای چې دا ځل ته دا کار وکړې؟"

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



امیلي زیاته کړه:

"زه؟ په داسې حال کې چې هغه څلوېښت کاله پیرودل کړي، زه ولې دغه کار وکړم؟"

پتر آه وکیښ.

خاله امیلي وویل:

"اوس چې تاسې دلته یاست، نو د ښخېدو تر ورځې به همدلته یاست، سمه ده؟."

پتر په خواشینۍ سره وویل:

"نور نو بس دي، ته غواړې چې موږ په دې باب سوچ وکړو، چې ته د ښخېدو تر ورځې ارام نه شې موندلای؟."

په عجیبه انداز یې پتر ته وکتل او زیاته یې کړه:

"څنګه چې مو زړه وي. هغسې فکر وکړئ."!

وروسته ووتله.

کله چې راستنېده، هوا تیاره کېده. امیلي وپوښتل:

"تر اوسه لا ساه کاږي؟"

هېڅا هم ځواب ورنه کړ. شپه وه. پتر راته وویل:

"ورځه ویده شه."!

ما ځواب ورکړ:

"زه څارنه کوم."

موږ ټولو جامې واغوستې او هلته کښېناستلو. څو ساعته تېر شول، اخر پتر او خاله امیلي ویده شول. زه د ګوډفرید د کټ تر څنګ کښېناستم. د هغه غوږ ته مې خوله ورنژدې کړه:

"ګوډفرید اکا."!

سترګې یې پرانیستې او راویې کتل. نظر یې زیات روښانه و، چې زه ترې ووېرېدم. هڅه یې وکړه چې د پخوا په شان موسکی شي، خو ناڅاپه یې سترګې په ځرخېدو شوې او ویې ویل:

"امیلي"!

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



" _امیلي هلته ویده ده"

ګوډفرید ورو زمزمه کړه:

"پرېږده چې ویده شي. یوازې یې مه پرېږده."

بیا یې ارام او په ډېره مینه زیاته کړه:

"هغه د یوې ماشومې په شان ده."

ناڅاپه بېسده شو.

پتر، چې ویښ شوی و، وپوښتل:

"له چا سره خبرې کوې؟"

ومې پوښتل:

"غلی شه او ویده شه."!

یوځل بیا له ګوډفرید سره یوازې شوم، داسې مې وانګېرل چې له ما څخه لیرې کېږي. سره له دې چې وېرې مې ستونی خفه کاوه، خو بیا مې هم نه غوښتل له هغو دوو کسانو څخه یو راویښ کړم. د هغه جګړه، له مرګ سره جګړې ته ورته نه وه. بلکې د مرګ د منلو ځنډ رامنځته کول وو.

ډېر ساعتونه تېر شول. امیلي د سره شفق پر مهال له خوبه اوچته شوه. په لوړ اواز یې وپوښتل:

"لا ژوندی دی؟"

بیا لړه ټیټه شوه، تلتك یې ترې اوچت کړ او پښې یې لمس کړې. له زمزمې سره یې وویل:

"ډېر ژر" تلتك یې بېرته ایله کړ او له کوټې څخه ووته. د منقل او دېګونو اوازونه اورېدل کېدل. ګوډفرید ما ته ځیر شو او په عجیبه انداز یې وویل:

"د امیلي په حق کې مهربانه واوسئ."!

دا یې وروستۍ خبرې وې، مخکې له دې چې خاله امیلي راوغوارم، له ژوند سره یې مخه ښه وکړه. پر څېره یې یو عجیب کیفیت واکمن و. پتر او خاله امیلي مې راوغوښتل .

امیلي وپوښتلم:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"مړ شوی دی؟."

ناڅاپه يې په سترګو کې يوې وحشيانه کرکې ځای ونيو، په ژړا يې پيل وکړ. په پرله پسې ډول يې ژړل. کله به په ما پورې مښته. کله به پتر پورې. خو ناڅاپه يې چغې کړې:

"هغه په دې ساده ګۍ کې يوازې پرېښودم. برترې يې دا وه، چې ما په دې ساده ګۍ کې يوازې پرېږدي او لاړ شي. کېدی شي زه هم مړه شمه. خو هغه ته کوم فرق نه لري. تللی دی. په دې اړه سوچ هم نه کوي."

پتر، هغه له خونې څخه وايستله او پخلنځي ته يې بوتله، چې وژاړي. خپله د ډاکټر د راوستلو په خاطر ووت، زه له مړي سره يوازې پاتې شوم. غرمه نژدې وه، چې هرڅه تيار شول. ګوډفريداکا د مړو مينځلو په خونه کې پروت و. خاله اميلي په پخلنځي کې ناسته وه او شا و خوا ته يې په ځير- ځير سره وکتل. زړه مو ونه کړ، چې يوازې يې پرېږدو. د مړي د ښخولو په وخت کې سخت باران اورېده. خو دغه اورښت د خلکو د راتګ مخه نه وه نيولې.

د ښار نيمايي خلك راغلي وو او ژړل يې. نارينه وو هم ژړل. زه فکر کوم، خلکو د دې بوډا لپاره نه ژړل، بلکې خپل راروان برخليك ته يې ژړل، چې د ګوډفريد برخلك ته به ورته و.

ټولو ځانونه د دې ژوند غولېدلي خلك ګڼل. کله چې يې دغه سپين ږيری، چې له برخليك څخه يې خبر وو، ښخ کړ، په دې وخت کې ټولو حس کړه چې هر يو دغسې يو سپين ږيری دی. هغه سپين ږيری چې ژوند يې درلود، خو اوس پرې خاورې، لوټې او ډبرې اړول کېږي. خاله اميلي په تور ځادر کې، په ډېر تجمل سره تابوت ته ځير وه. کله چې کور ته ورسېدم، خاله اميلي خولۍ يوې خوا ته وغورځوله، په ځلېدونکو سترګو يې وويل:

"اوس به د کوټې دېوالونو ته شنه کاغذونه ورکړم. ټولو سامانونو ته شين رنګ ورکوم، موبلونه او کوچونه جوړولو ته ورکوم."

وروسته يې له يوې بدرنګې خندا سره زياته کړه:

"هغه له شنه رنګ سره هېڅ مينه نه درلوده."

په دې وخت کې يې د سفر نقشه له الماری څخه وايستله او په ارامۍ سره يې وويل:

"د دغې نقشې کارونه رازده کړئ! غواړم سياحت وکړم."

پتر په ډېره حيرانۍ سره په ځرګندولو پيل وکړ. اميلي نارې کړې:

"ګوډفريد خوا راسره نه ځي."

بيا يې په ژړا پيل وکړ. موږ ورته ډېر حيران وو.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه ژړا څو ساعته روانه وه، څکه یوې ناوړې طبیعي پېښې له ځان سره یو وېروونکی راز ملگری کړی و.

بله ورځ د خاله امیلي حالت لږ ښه و، په ظاهره یې رنگ ډېر غوړېدلی و، یوازې مو پرېښووله .

څو ورځې وروسته مې یو زوی پیدا شو، ما پرې "گوډفرید" نوم کښېښود. څو اوونۍ وروسته مې خاله امیلي ته یو لیك ولیکه او ومې پوښتله چې ایا غواړې مورږ ته راشي؟

خو هغه رانغله.

لیکونه به یې لنډکي وو، په سمه توگه یې له اوضاع او احوال څخه نه شو خبرېدای .

د گوډفرید اکا تر مړینې شپږ میاشتې وروسته مو ولیده، ډېره ډنگره شوې وه، پر تودوښې سربېره یې له ځانه یو ځادر تاو کړی و، د کړکۍ تر څنگ پر څوکۍ ناسته وه .

د خونې رنگ د کبانو د ښیښه یي صندوق په شان تك شین و .

پتر وویل:

"اوه ربښتیا! ته له خپلې سلیقې سره سم ژوند کوې؟"

امیلي خپل لاسونه د دفاع په حالت اوچت کړل، خو پتر په بېرحمۍ سره وویل:

"اوس راضي یې؟"

امیلي له سترِیا سره وویل:

"ته څه پوهېږې؟"

پتر ځواب ورکړ:

"اوس هغه څه کوې، چې زړه دې غواړي."

امیلي کوم ځواب ورنه کړ.

پتر مې کرار په لاس وواهه او غوښتنه مې ځنې وکړه، چې غلی شي. ومې ویل:

"شین رنگ، ډېر ښکلی دی."

امیلي وویل:

"ښکلی؟ ډېر ښه، تا وویل ښکلی؟."

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



غږ یې اوچت او غوځ شو:

"راشئ دا شین رنګ ښه وګورئ، ومو لید؟."

د کوټې شین رنګ، د رڼا له کبله سپینې لکې خپلې کړې وې.

امیلي چغې کړې:

"پوهېږې؟ ګوډفرید له شنه رنګ سره هېڅ مینه نه درلوده."

وروسته موږ ته څېر شوه او وې ویل:

"تاسې به ضرور فکر کوئ، چې زه لېونۍ یمه. زه ستاسو په شان روغه یم، خو تاسې په دې نه پوهېږئ."

اوږې یې پورته واچولې او تر شونډو لاندې یې وویل:

"زما په نظر"...

بیا یې د څوکۍ له شا څخه د شرابو سور بوتل راوایست او د رڼا مخې ته یې ونیو:

"تش دی، دا یې وروستی و. ټول بوتلونه مې تر پایه څښلي دي."

پتر وپوښتل:

"تا خو هېڅ وخت شراب نه څښل."

امیلي ځواب ورکړ:

"سمه ده، اوس ارامي واکمنه شوې ده، ګوډفرید هم تل هیله راڅخه کوله، چې شراب وڅښم."

ځان یې په څادر کې ښه وپېچه، موږ وانګېرل چې هلته کوم بل کار نه لرو. خاله امیلي هغې نړۍ ته ګام ایښی و، چې موږ په کې پردي ښکارېدو. موږ لا ډېر ځوانان وو.

څو اوونۍ وروسته خاله امیلي هم پرته له دې چې کومه ناروغي ولري، مړه شوه. یوه شپه د تل په شان کټ ته لاړه چې ویده شي. خو سهار مهال یې نوکر متوجه کېږي چې ساه یې ختلې ده. ډاکټر، د ښخېدو پر جوازپاڼه د مړینې لامل (د زوړتوب کمزوري) ښوولې وه. خو ما ته یې د مرګ علت څرګند و او هغه دا چې مینه په بېلابېلو بڼو څرګندېدی شي. بدن مې ولړزېد.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ظاهر تایمن

## غربت

د ژمي سهارني باد، پر تږولو شيانو سينه موږله، د دې تت خو يخ سهار په فضا کې به د واورو پاغوندو، په هوا کې د لالهاندۍ نڅا کوله. د بربنډو ونو د څانګو غږونو او چغو هم د سهار چوپتيا ماتوله.

ساړه باد په توندۍ سره زما پر بدن لګېده، د لوېدو له وېرې مې کرار- کرار ګام اخيست. له هر ګام سره به مې تر پښو لاندې کنګلونه ماتېدل، يوه ماشومان شيطنت، د کنګلونو ماتېدنه زما په زړه کې په خوند بدلاوه. څو دقيقې همداسې مخ په وړاندې لاړم، تر دې چې د موټرو تمځي ته ورسېدم.

د نورو ورځو په شان تر چتر لاندې ودرېدم، چې دغه ځای په پېژندويه او اشنا څېرو ډك و. موږ به هره ورځ همدلته سره راغونډېدو، که څه هم موږ يو بل ته پردي وو، خو ټول مسافر ښکارېدل. زموږ اړيکه به تر موسکا وړاندې نه غزېده.

زه د خپلو خيالونو په نړۍ کې ډوب د بس راتلو ته په تمه وم. يوه ناپېژندويه حس زما سترګې د چتر بلې څنډې ته واړولې، داسې مې وانګېرل چې يو څوك مې لټوي.

په تته رڼا کې مې پر يوه سپين ږيري سترګې ولګېدې، چې د څراغ ستن ته يې تکيه کړې وه او نېغ ما ته ځير و.

کله چې مو سترګې سره وجنګېدې، له څېرې څخه يې موسکا په تېښته کې وه، زما پر لوري راوړاندې شو، لا يو څو ګامه رانژدې شوی نه و، چې په نيمه انګرېزۍ ژبه يې وويل:

"سهار په خير"!

پرته له دې چې زما ځواب ته په تمه وي، په يوه ژوره ساه يې له سګرېټ څخه لوګی وايست، له سپږمو او خولې څخه يې شنه لوګي په نڅا- نڅا هوا ته جګ شول. د خولې توښ او د سګرېټو لوګي يې يوه شېبه څېره پټه کړه، د نيم سوي بلوط لرګي غوندې يې لنډه شېبه څېره نهام شوه.

په نه زړه مې په ځواب کې سر وښوراوه، د خبرو حوصله مې نه درلوده.

د هغه تېزې سترګې په ډېره توندۍ سره، راته ځير شوې. يوې ځوروونکې چوپتيا دا څو شېبې تر ستوني تېرې کړې، کله چې زما چوپتيا ته ځير شو، په ډېره کرارۍ سره يې په اسپانيوي ژبه په خبرو پيل و کړ.

د هغه دا پردی غږ له يوې ناپېژندويې سندرې سره په هوا کې تاوېده، څو کسان سپين ږيري ته ځير وو.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سپين ږيري نظر په کلکه څمکه کې ګنډل شوی و. ته وا د کنګل او کلکې څمکې پيام راته په شعر اړوي. ناڅاپه يې په اسپانيايي ژبې خبرې بندې کړې.

په انګرېزۍ يې راڅخه وپوښتل:

"اسپانيايي يې؟."

غږ يې داسې و، لکه چې هيله لري زه بايد اسپانيايي واوسم. ته وا په يوه ګړ ټکي پسې لالهاند دی، هغه هم په دې پرديتوب کې.

په ناباورۍ سره يې په ما کې سترګې وګنډلې:

"نه، نه يم"!

ته وا زما په ځواب راضي نه دی. بيا يې وپوښتل:

"قواره او بڼه خو دې د اسپانيايانو ده."

حيران شوم، هېڅ مې هم ونه ويل.

دا ځل يې په ډېره سپين سترګۍ سره وويل:

"نو د کوم ځای يې؟"

بيا هم نه پوهېدم، چې څه ځواب ورکړم؟

غوښتل مې څه ونه وايم او دغو خبرو ته همدلته د پای ټکی کښېږدم. خو ناڅاپه مې خوله پرانيستل شوه:

"تا ته څه توپير لري، که زه د نړۍ له هرځای څخه واوسم؟"

زما ځواب، سپين ږيری په غوسه کړ، ته وا په ناخبرۍ کې مې د هغه پېژندګلوي تر پښو لاندې کړې ده.

نور هم رانژدې شو. په غوسې سره زما سترګو ته ځير شو... ته وا غواړي زما مغزو ته هم لار پرانيزي. په مات غږ يې وويل:

"توپير لري، ډېر توپير لري! انسانان لا د انسانيت هغه پړاو ته نه دي رسېدلي، چې له اصلي او فردي پېژندګلوۍ پرته دې ژوند وکړای شي. ته که وغواړې، که ونه غواړې د ځان يې! ته دوه بېل انسانان يې، خو په يوه بدن کې؟"

په غوسې سره يې ببرته زياته کړه:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"ستا غوندې د انسانانو ورکه پېژندګلوي هغې تحقير شوې اروا ته ورته ده، چې پر خپل غربت هم نه شرمېږي."

له دې سره يې پر شونډو يوه ترخه موسکا وغزېده. ويې ويل:

"وېرېږې؟ له څه نه زيات وېرېږې، له غربت نه که له پرديتوب نه؟ ښايي له دواړو به وېره لرې. دا دواړه د يوه تار دوه ورك سرونه دي. چې تا جوړوي."

"_لکه چې غواړې ما ته پېغور راکړې."

په شك سره يې وويل:

"ستا غربت ستا له پېژندګلوۍ سره موازي تګ لري. لکه ته او ستا سيورى، کله هغه په تا پسې، کله ته ورپسې. کله دې ځنګ ته، کله يې ته په ځنګ کې، همدا وجه ده چې د يوې هستۍ پراختيا او ژورتيا دلته له تا بل څه جوړوي"...

سپين ږيري په خپلو خبرو سره زما پر اروا نوکارې لګولې، زه يې د ځان په موندنې پسې په ځان کې خوشې کولم. ځان به مې نه موند، په غربت کې به له ځانه ورکېدم، په زړه او ذهن کې مې وېره په اېشېدو وه.

بيا يې وپوښتلم:

"اوس راته ووايه چې د کوم ځاى يې؟"

پرته له دې چې ځواب ته په تمه وي، زياته يې کړه ...

"ځواب به دې ما ته له ستونزو تش نه وي. ښايي ستا ځواب هغه انځور مات کړي، چې ما په خپل ذهن کې جوړ کړى، ګوره زه هم غواړم تا په هغه بڼه ووينم، چې غواړم يې."

موسکا يې پر شونډو ځلېده او د يوې چوپتيا په مرسته يې وپوهولم، چې زما ځواب ته په تمه دى. دا ځل يې پوښتنې بله مانا خپله کړې وه. زه يې خپل هېواد او د خپلې زوکړې سيمې ته ورکښلم.

غوښتل مې ووايم چې د افغانستان يم او چغه کړم، چې ټول يې واوري.

خو د هغه دا خبره رايادہ شوه، چې ويې ويل:

"ځواب به دې ما ته له ستونزو تش نه وي. ښايي ستا ځواب هغه انځور مات کړي، چې ما په خپل ذهن کې جوړ کړى، ګوره زه هم غواړم تا په هغه بڼه ووينم، چې غواړم يې."

پرته له دې چې څه ووايم له هغه ځايه روان شوم. خو ما ليدل چې په څه سپکاوي سره يې په ځير راته کتل .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر هغې ورځې وروسته چې هر سهار تمځي ته ورځم، سترګې مې په ډېر تشویش سره په هغه سپین ږیري پسې ګرځي. په خپل ګومان سره يې هغه ورکه لټوله، چې تر ما بهر وه.

هغه سپین ږیری بیا هلته زما پر لوري ګام وانه خیست. زه هم نه پوهېږم چې ولې يې په وېرې له نظر څخه لیرې تښتم.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړنی ماشوم

د سهار لومړنی شېبې وې، چې د لومړي ځل لپاره د مريمې د ملا درد په زياتېدو شو، دا عجيبه برېښ او درد و، چې ناڅاپه يې د هغې پر ملا منګولې ښخې کړې، هغه په پيل کې پرې ونه پوهېده، خو اخر وپوهېده، چې مياشت يې پوره شوې ده او اوس يې وخت دی.

يوځل بيا د کور د کارونو په خاطر له ځايه اوچته شوه، ژوند ورته اسانه نه و، ارام کول هم ورته بې مانا ښکارېدل. هغه پوهېدله چې د خاوند کورنۍ يې له لومړۍ ورځې ورځخه کرکه لري. په ياد يې وو، چې د هغوی له لاسه څومره ځورېدلې او څه خبرې يې اورېدلې دي.

هغې هېڅکله هم دومره ستونزمن ژوند نه و ليدلی. د هغوی په خپل کلي کې وسايل دومره لږ نه وو، ژوند هم ښه و، خو دلته رښتيا هم چې ژوند ګردسره يو مصيبت و. دلته دومره کارونه زيات وو، چې کله- کله به د هغې حوصله ختمه شوه، که څه هم ظريف اندام، ځوان او تود زړه يې درلود، تکل يې کړی و، چې د خپلې خور او نورو اندرندو په څېر خواري وګالي. که څه هم هغوی تر مريمې ډېرې قوي وې.

په ډېرو ستونزو له ځايه اوچته شوه، غوښتل يې چې د غواګانو او مېږو شيدې ولوشي. نن ورته دا کار ستونزمن ښکارېده، ځکه دردونو کمزورې کړې وه، کله چې يې خاوند کروندو ته روانېده، نو له هغې څخه يې وپوښتل:

"ولې؟ څه درباندې شوي، ناروغه يې؟"

هغې په ځواب کې ويلي وو:

"روغه يمه."

مريمه په دې مينه دومره خوشحاله شوه، چې په بدن کې يې يوه نوې قوه وزېږېده او پرځان يې وياړ وکړ، چې څومره نېکمرغه او څنګه زړه سواندی مېړه لري.

د مريمې خاوند، د خپلو ورونو په پرتله خپلې مېرمنې ته زيات پام کاوه، مريمې له ځان سره وويل:

"خدای راڅخه راضي دی، زه به هم د خپل خاوند ماشوم له شورماشور پرته دنيا ته راوړم."

کله چې يې د شيدو لپاره غوجلې ته لوښي وړل، پر نري مخ يې د خولو نرمه څپه پرته وه. خواښې يې نارې کړې:

"ژر شه! موږ تږوله ورځ شيدو ته انتظار نه شو کولای. لا زيات کارونه پاته دي، هلته يو خروار مستې هم پرتې دي، چې بايد وشاربل شي. که داسې ځنډ وکړې، موږ يې دا ځل بازار ته نه شو لېږلای."

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مریمې ځواب ورنه کړ او د شیدو لوښي یې په پخلنځي کې کښېښوول، یوه کونج ته لاړه او یوه اوږده ساه یې واخیسته. سر یې وار په وار ګنګسېده. دردونه یې هم مخ په زیاتېدو وو، هغې فکر کاوه، چې باید نور ځان خپلې خواښې ته وسپاري. خو بیا یې فکر وکړ، چې کېدی شي دا د زېږون دردونه وي. دا نورې مېرمنې به ورباندې وخاندي. خدای ته یې دعا وکړه، چې حوصله ورکړي، په خپلو کارونو پسې لاړه.

د کار پر وخت یې ذهن ته عجیبه خیالونه راتلل:

"که د زېږون پر وخت ومرمه؟ خاوند به مې ځومره راپسې خپه شي، یا کېدی شي خوشحاله شي، چې ژر د خپلې مېرمنې له شر څخه خلاص شو.

موسکۍ شوه او ویې ویل:

"نه داسې نه ده، زه پوهېږم چې خاوند مې زیاته مینه راسره لري. دا یې ښه ثبوت دی، چې هر وخت به بازار ته ته، نو ما ته به یې یوه ګېډۍ ګلونه هم راوړل. دی لومړنی کس دی، چې کور ته راځي، په داسې حال کې چې وروڼه به یې دباندې ناست وو او چای به یې څښلې.

هغه ورځ چې خواښې راسره جنجال وکړ، او ښکنځل یې کول، هغه راغی او زما لاسونه یې ونیول، ویې ویل:

)مریمې! ته غم مه کوه، زه درسره مینه لرم، درڅخه خوښ یم، ځکه چې داسې نازنینه مېرمن لرم."(

دا خیالونه د دې لامل شول، چې هغه تر پخوا لا زیات له خپل خاوند سره مینه ولري. داسې یې وانګېرل، چې له مینې څخه په یوه ډکه نړۍ کې الوزي. خوشحاله شوه، چې په ګېډه کې ماشوم لري.

"دغه ماشوم به هلك وي، که نجلۍ؟ ای خدایه! که هلك وي، ځومره ویاړ به راوبخښي، څومره لویه بریا ده! تر اوسه د دې کور یوې ناوې هم هلك نه دی زېږولی."

د هغې خسر او خواښې به تل د خپل بد قمست له کبله سر ټکاوه. ای خدایه! زما ځان واخله خو زوی راکړه! کېدی شي په دې توګه هغوی راڅخه خوشحاله شي.

خواښې یې چغې کړې:

"مریمې! مریمې! چېرې یې؟ بېکارې ښځې! خیال کوې چې په نړۍ کې یوازې ته امیندواره یې؟ مریمې"...!

وار په وار یې غږ اوچتېده .

مریمه د خیالونو له څپو څخه رابهر شوه او د خپلې خواښې پر لوري رهي شوه. خواښې یې پوزه کش کړه او زیاته یې کړه:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"ژر شه! ولې داسې ارامه ناسته یې؟ دا ډوډۍ ځمکو ته یوسه... ته او خدای ژر شه"...

مریمه په چورتونو کې لاهو وه، ځکه نن دردونو اجازه نه ورکوله، چې کروندې ته لاړه شي، بله دا چې کرونده هم زیاته لیرې وه. غوښتل یې چې خپل عذر ووایي، خو مشرې ناوې زیاته کړه:

"مورې به ځومره خوارۍ ګاللې، اوس هم دا دې غنم اوړه کوو، غرکې شاربو او دا نور کارونه... ته یوازې دا ډوډۍ ځمکو ته نه شې وړلای؟ مورې ته وګوره، مورې هم اولادونه زېږولي دي"!

مریمې غاښونه وچیچل او ملا یې سیده کړه، د ډوډۍ غوټه یې راواخیسته او رهي شوه. کله چې کروندې ته ورسېده، تر یوې ونې لاندې کښېناسته، خاوند او نورو کسانو به تر ونې لاندې ډوډۍ خوړله. هغې دسترخوان خپراوه، چې خسر یې راغی.

"تا بیا ځنډ وکړ، مورې له لوږې مړه شوو."

سپین ږیري لاسونه ومینځل، په لوړ غږ یې بسم الله وویله او په خوړلو یې پیل وکړ. نور کسان هم یو- یو راغلل او ګډ دسترخوان ته کښېناستل. مریم هم ورته ډوډۍ راایستله.

خاوند یې څو وارې وروکتل. خو د خپل پلار په وړاندې یې هېڅ هم ورته ونه ویل. کله چې یې ډوډۍ وخوړله او لاسونه یې ومینځل، ټول بېرته خپلو کارونو ته لاړل. خو د مریمې خاوند تم شو. ویې پوښتل:

"مریمې! کومه ناروغي لرې، ولې څه نه وایې؟."

مریمې ځواب ورنه کړ. د درد له کبله یې ټول بدن په لړزېدو شو، خو هغه یې په نرمۍ سره لاسونه ونیول او ویې پوښتل:

"مریمې! مریمې! څه درباندې شوي؟."

مریمې د زیاتې مینې له کبله ځان کابو نه شو کړای، ویې ژړل او په سختۍ سره یې وویل:

"وېرېږم، وخت مې رانژدې شوی دی."

خو خاوند یې په غوسې سره زیاته کړه:

"ولې په کور کې پاتې نه شوې؟ دومره لیرې به نه راتلای."

درد، مریمې ته نور وخت نه ورکاوه، چې څه ووایي، خو خاوند یې په ټیټ غږ سره وویل:

"زه دې کور ته بیایم."

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دواړه روان شول. خو دا ځل داسې درد پرې راغی، چې پښې یې ورولړزولې، هغې نور نه شوای کړای، چې ګام واخلي. ویې ویل:

"یوازې مې پرېږده، نور نه شم کولای ګام واخلم."

خاوند یې وویل:

"راشه دلته ارام وکړه، زه به مې مور راولم."

په منډه کور ته راستون شو، چې خپله مور راولي.

مریمه تر یوې ونې لاندې ارامه وغزېده. ټول بدن یې درد کاوه، داسې درد، چې په ټول ژوند کې یې نه و لیدلی. شونډې یې په غاښونو چیچلې وې، چې وینې ترې بهېدلې. کله به چې پرې د درد څپه راتله، نو پر لاندېنۍ شونډه به یې غاښونه کښېکاږل. په دې توګه به یې هڅه کوله، چې خپل دردونه کم کړي. نور نو په څه نه پوهېده، ښایي بېسده شوې به وه.

خو، نه پوهېده، چې څومره وخت ویده شوې وه. کله چې راویښه شوه، د خپلې خواښې غږ یې واورېد، چې څنګ ته یې ولاړه وه. د لومړي ځل لپاره د هغې غږ له مهربانۍ ډك و، چې ډاډ یې ورکاوه. ویې ویل:

"حوصله وکړه، لورې، حوصله."

مریمې خپلې سترګې بندې کړې او خدای نوره له دردونو او ځور څخه وژغوله. د یوه ماشوم د ژړا نري غږ په سد کړه. څومره ګلالی غږ و! سترګې یې پرانیستلې، ویې لیدل چې خواښې یې ماشوم نازوي. په موسکا سره یې وویل:

"زما ګلالۍ ناوې! مبارك دې شه"!

مریمې، د زیاتې خوشحالۍ له کبله خپل ټول دردونه هېر کړل. ټولې اوښکې او خطرونه یې له ځانه وشړل او په دې چورتونو کې لاهو شوه، چې که هلك مې نه و زېږولای، ایا خواښې به مې لا څخه خوشحاله وه؟ له سترګو څخه یې د خوښۍ اوښکې روانې شوې .

خاوند یې راغی او ویې پوښتل:

"مریمه چېرې ده؟"

مور یې وویل:

"هلك دی"!

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې خبر په اورېدو سره د هغه اننګي سره شول، پرته له دې چې هڅه وکړي ماشوم وګوري، کروندې ته يې منډه کړه، چې پر خپل پلار او ورونو زېری وکړي.

د ژباړې نېټه:1382/سلواغه/4 - ل کال

خيرخانه مېنه، کابل

Download from: ketabton.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**